# ۱۰۰۰

# انګیزه بښونکي خبري



Ketabton.com

لیکوال: صبورګل صابر

Edit: saboorgull Saber

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زر انګیزه ښونکي خبري

زر انګیزه ښونکي خبري

لیکوال صبورګل صابر

9/جدی/1396 ه. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلوی خښتن تعالی یه سییخلی نامه

زر انګیزه بښونکی خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د ګراني مور او مرحوم پلار هغې
بې ساري مينې ته، چې پر داسي
حال کې يې زما پالنه کړې ده، چې
دخپل خير اوشرپه کټه لا هم نه
پوهېدم.

زر انګيزه ښنوکي خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل ومن يضلل فلا هادي ل.

دپاک خدای جل جلاله شکر اداء کوم، چې د " زر انګېزه بښونکي خبرې" کتاب توفيق يې را په برخه کړ، الله دې وکړي چې د ټولنې په نفع او ګټه تمام شي،

دغه کتاب مې د نهو مياشتو په سخت مصروفيت کې ليکلی ، په داسي مصروفيت کې چې ډېر وختونه مې د اذان او جمعې تر منځ مې وخت ورکاوه، په کتاب کې ليکل شوي خبرې مې د ډېرو پوهانو فکرونه او اندونه را غونډ کړی دي، له ځيل وس سره سم مې د هرې جملې په پای کې د ليکوال ،کتاب او يا هغه ويب سايټ نوم ورکړی چې ما ورڅخه جمله راخيستي، او هغه فکرونه چې زما ځيل دي او يا مې ليکوال ياد نه دی، صرف جمله مې په ذهن کې وه، ترهغو لاندې مې هيڅ نه دي ليکلي، که کوم کتاب يا د ليکوال وي، او مايې نوم نه وي ليکلی، له هغو ټولو څخه ببښنه غواړم، تر ځيله وسه مې ډېر کوشش کړی چې د چا حق ونه خورم، که مې جمله ژباړلي د ليکوال نوم مې خامخا ورکړي او که مې له کوم کتاب څخه اخذ کړی د کتاب يا ويب سايټ نوم مې ورکړي، خو که بياهم را څخه پاته شوي وي ورڅخه ببښنه غواړم.

په کتاب کې هيڅ د موضوع خيال نه دی ساتل شوي، جملې سره تفاوت لري، هغه مې په دې خاطر ادا کار کړی، چې زمونږ ټولنه د غټو موضوعاتو عادت نه لري، څومره چې وړه جمله وي، دوی ورته خوشاله وي، نو ځکه مې له ډېرې غټې موضوع څخه هم يوازې وړه جمله جوړه کړې ده او ليکلې مې ده.

تر ځيله وسه مې کوشش کړی چې د اروا پوهانو نظرونه وليکم، ځکه چې زمونږ کرغېړنه ټولنه له اروايی کمښت سره مخ ده، او جنګونو، نفرتونو د ټول ځوان قشر ذهن ته سدمه رسولې ده، ما هم د دوی د ذهني پياوړتيا په پار د اروا پوهانو جملو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، کتاب هر ځوان او ماشومانو ته لازم ده چې بايد وه يې ګوري، او هره جمله يې په ځيل ذهن کې ياد وساتي.

د کتاب ايډيټ او را غونډول ټولې چارې يې ما پخپله سرته رسولې او هيڅ کوم چا راسره په دې برخه کې برخه نه ده اخيستې، يوازې مې ځيل ورور نيازګل صميم ته د وهم ځل کتلو وراندېز کړی خو تر اوسه يې کتلی نه دی.

کتاب کې به اشتباهات لازمي وجود ولري، خو له ټول کتونکو څخه هيله کوم، چې په لاندې ايميل ادرس ځيل وړانديزونه راته پرېږدي، تر څو يې د سمون په پار کوشش وکړم.

په درناوي صبورګل صابر

saboorgull@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(1) نیت سم کړئ، چې ټــول کارونه مو په سمه توګه په مخ ولاړ شي، لکه څنګه چې ستر پیغمبر صل الله علیه وسلم په دې اړه ویلي دي ((ټولې کړنې ستاسو په نیتو پورې تړلې دي))

(2) تکړه دانه دی چې په قوت کې خپل حریف ماتې ورکړي، بلکي حقیقي تکړه هغه څوک دی چې د قهر (غوصې) په وخت کې ځان کنټرول کړای شي. (نبوي ډالی)

(3) د انسان درې دوستان دي، لومړی مال دی چې د روح تر قبض درسره وي، دوهم خپلوان دي چې تر قبره درسره وي او دریم دانسان کړنې او عملونه دي چې تر قیامته به درسره وي (نبوي ډالی)

(4) تاسو د الله په مخلوق رحم کوي، الله به پر تاسو رحم وکړي. (نبوي ډالی)

(5) چاچې یو چاته دوکه ورکه، هغه زمونږ څخه نه دی. (نبوي ډالی)

(6) څوک چې د خلکو احسان او نېکي نه مني، هغه د الله پاک جل جلاله احسان هم نه مني. (نبوي ډالی)

(7) رېښتنی مزدور کونکی به له نبیانو صدیقانو اوشهیدانو سره وي (نبوي ډالی)

(8) که څوک غواړي چې رزق یې ډېر او عمر یې اوږد شي، نو دخپلوان سره دې ښه سلوک کوي. (نبوي ډالی)

(9) بهترین مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان دهغه له لاس او ژبې څخه نور مسلمانان په امن وي. (نبوي ډالی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(10) رشوت ورکونکی او اخستونکی دواړه به په دوزخ کې وي. (نبوي ډالی)

(11) کامل مسلمان هغه څوک دی، چې د ښه خوی خاوند وي. (بوي ډالی)

(12) هغه څوک به جنت ته ولاړ نشي، له چا څخه چې همسایه په تنګ وي. (نبوي ډالی)

(13) د مظلوم له ښرا څخه لېرى ګرځئ؛ ځکه مظلوم مظلوم دښرا په کولو خپل حق له خدایه غواړي، او پاک خدای جل جلاله دهیڅا دحق ورکولو څخه منعه نه کوي.
(نبوي ډالی)

(14) څوک چې پټه خوله شي، هغه خلاص شو. (نبوي ډالی)

(15) د سترګو زنا نارواته کتل دي. (نبوي ډالی)

(16) دجنت کلي لمونځ دی، او دلمانځه کلي اودس دی.
(نبوي ډالی)

(17) فریبکار، بخیل او هغه هغه څوک چې دخپل احسان منت په بل چا باندې اچوي جنت ته به داخل نه شي. (نبوي ډالی)

(18) الله تعالی ستاسو صورت او مال ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړه او کړنو ته ګوري.
(نبوي ډالی)

(19) که چېرته یو مسلمان دبل مریض پوښتنه وکړي دسهار په وخت کې، نو دده لپاره به تر ماښامه اویازره ملائکي دعا کوي، او که چېرته د ماښام په وخت د مریض پوښتنه وکړي، نو تر سهاره به دده لپاره اویازره ملائکي دعا کوي. (نبوي ډالی)

(20) د هرچا په زړه کې چې د سپیلني د داني په شان کبر وي، هغه به جنت ته داخل نشي. (نبوي ډالی)

(21) هیڅ شی د خدای جل جلاله په نزد دومره غوره نه دي، لکه څوک چې خپل قهر د الله جل جلاله په خاطر وزغمي. (نبوي ډالی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(22) د حسد کينې او بغض څخه تېښته وکړئ، ځکه حسد اوکينه نېکی داسي خوري، لکه اور چي لرګي خوري. (نبوي ډالۍ)

(23) څوک چي ديني علم دبدی لپاره، دخلکو دشهرت لپاره زده کوي، ځای به يې دوزخ وي. (نبوي ډالۍ)

(24) څوک چي دفتنو او فساد په وخت کې زما دسنتو پيروي وکړي، دسلو شهيدانو ثواب به ورکړل شي. (نبوي ډالۍ)

(25) د چا په سينه کې چي دقران کريم څخه کوم شی نه وي، د وران کور په شان وي. (نبوي ډالۍ)

(26) څوک چي د مسلمان ورور په نشتون کې دهغه دحقونو دفاع وکړي، پاک خدای جل جلاله به يې د دوزخ د اور څخه وساتي. (نبوي ډالۍ)

(27) کوم شخص چي تنګ لاسي (محتاج) کس ته مهلت ورکړي يا قرض ورته معاف کړي نو د قيامت په ورځ به الله ده ته په خپله سايه کې ځای ورکړي. (نبوي ډالۍ)

(28) په تحقيق سره تر ټولو ښه خبرې د الله کتاب دی او تر ټولو ښه تګ لاره د محمد صل الله عليه وسلم تګ لاره ده او تر ټولو بد امور بدعتونه دي او هر بدعت ګمراهي ده. (نبوي ډالۍ)

(29) كه څوک د الله لپاره څلويښت ورځي په جماعت لمونځ وکړي (په داسي ډول چي د امام سره) اول تکبير نيسي نو دده نفر لپاره د دوو شيانو څخه براءت (پاکي) ليکل کيږي، د اور څخه براءت او د منافقت څخه براءت. (نبوي ډالۍ)

(30) په انسان کې دننه شيطان داسي ګرځي لکه په رګونو کې چي وينه جريان کوي. يعني د نېکيو مخه نيسي او د انسان په فکر، دماغ او زړه کې د وسوسو اچولو هڅه کوي. (نبوي ډالۍ)

(31) خوشحالي ده هغه چا لره چي دی د خپلو عملونو په صحيفه (عمل نامه) کي زيات استغفار ومومي، يعني ډير استغفار يې ويلی وي. (نبوي ډالۍ)

(32) د قران ماهر د هغو ملکو سره دی چي ليکونکي، عزتمندي او نيکي دي او هغه شخص چي قران وايي او پکښې بنديږي او قران ويل دده لپاره مشکل وي د هغه لپاره دوه ثوابه دي (نبوي ډالۍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(33) الله تعالی وايي: څوک چې زما په قضاء (فيصله) راضي نه سي او زما پر نازل کړي مصيبت باندي صبر ونه کړي نو زما پرته دي بل رب ولټوي (نبوي ډالی)

(34) دخلکو په اړه د بد ګمان کولو څخه ځان وساتئ. (نبوي ډالی)

(35) کله چې خلک ظالم (د ظلم کولو په وخت کي) ووينې او د هغه لاس ونه نيسي نو ليري نه ده چې الله پر هغو ټولو عام عذاب راولي. (نبوي ډالی)

(36) تر ټولو درونډ شی چې د مؤمن د نکيو پهٔ پله کي ايښوول کيږي هغه ښه اخلاق دي او الله جل جلاله د هغه چا سره بغض لري چې فحش وينا وي کوي او بد ژبی وي.

(نبوي ډالی)

(37) مخلوق د الله عيال دی، رزق او نفقه ورکوي، نو د الله په نزد پهٔ مخلوق کي بهترين شخص هغه دی چې د هغه د عيال سره ښه کوي. (نبوي ډالی)

(38) کوم څوک چې هغه ښځې ته تسلي ورکړي چې زوی يې مړ سوی وي نو ده ته به پهٔ جنت کي بهترين کالي ورواغوستل سي. (نبوي ډالی)

(39) د خلکو سره د هغو د مرتبې مطابق معامله وکړئ. (نبوي ډالی)

(40) کشر ته د مشر رتبه مه ورکوئ او مشر ته د کشر رتبه مه ورکوئ که نه نو د نړی نظام به فاسد سي. (نبوي ډالی)

(41) کله چې کوم بنده درواغ وايي نو دده د بد بوی څخه ملائکه يو ميل ليري ځي. (نبوي ډالی)

(42) پهٔ جنت کي مؤمن ته زيور (د زينت لپاره تر هغه ځايه) ور رسيږي چې تر هغه ځايه د اوداسه اوبه رسيږي. (نبوي ډالی)

(43) په (کامل) مؤمن کي دا دوه صفته نه جمع کيږي يو بخل او بل بد اخلاقي. (نبوي ډالی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(44) ما یو نفر ولیدی چې په جنت کې ګرځېدی ځکه چې ده یو داسې درخته د لارې څخه ایسته کړې وه چې خلکو ته یې تکلیف ورکاوه (نبوي ډالی)

(45) د زړه سواندو اوربښتېنو خلکو مخونه دسپرلي د ګل غوټیو په څېر تاند او غوړېدلي وي او د درواغو او بې رحمه خلکو څېرې دخزان سیلۍ وهلي او مړ ژونډي وي.

(خوشحال بابا)

(46) هغه څوک د ډېرې ستاینې وړ ده چې خپل بار په چا نه اچوي، بلکې دنورو خلکو بارونه وړي. (خوشحال بابا)

(47) ناځوانه خلک په خپل نسب ویاړي، خو میرونه په خپلو کارنامو.

(خوشحال بابا)

(48) ژبه په ښو ویلو عادت کړه، په خپلو او پردیو کې به دې درونډ کړي، بده ژبه به دې په خپلو او پردیو کې سپک کړي. (خوشحال بابا)

(49) زه دهغه انسان په خپلواکه فکر، بې غمه زړه، او روڼ تندي ویاړم، چې نه زر لري او نه زمین. (خوشحال بابا)

(50) څوک چې په غرمه پورته کیږي، هغه له هر کاره پاته وي. (خوشحال بابا)

(51) دې ته مه ګورئ چې فلانکی په یادو قران لولي، تاسو د فلاني عمل ته وګورئ چې څنګه دی په زړه کې یې وېره شته او که نه. (خوشحال بابا)

(52) پښتانه که کم همته او ناپوهان نه وای، نو نن به په ټول هندوستان د دوی حکومت وو، خـــو افسوس چې غافله دي. (خوشحال بابا)

(53) په هر کار کې عقل قاضي کړه، چې کله هم څه خبره یا کار کوي، له عقل نه مشوره وغواړه، چې څه فتوا یې درکړه هغه عملي کړه.

(خوشحال بابا)

(54) که په نفس قدم کیږدې، نو سلطان به شې.

(خوشحال بابا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(55) زهٔ لوی او واړه خلک پهٔ دې پېژنم، چې لوی خلک پر راتلونکي فکر کوي، کوچني خلک پهٔ تېر فکر کوي. (الفت)

(56) وپوهېدم چې دخير اوبرکت خلک پهٔ ساده مسلمانانو کې موندلی شو.

(الفت)

(57) ځيني وخت غمونه او مشکلات دخوشحالی د راتلو زېري وي. (الفت)

(58) هر څومره چې د انسان پهٔ ژوند کې پرمتخګ رامنځ ته کېږي، پهٔ هماغه اندازه يې مجبوريتونه کمېږي او خپلواکی رامنځ ته کېږي. (الفت)

(59) د زمانې دا عادت دی چې زاړه شيان له کاره باسي او نوی شيان رامنځ ته کوي.

(الفت)

(60) پر خلکو حکومت کول ګران نه دي، بلکې پهٔ هغو کې پوه اوناپوه معلومول ګران دي.

(الفت)

(61) بې عمله دعا دخدای جل جلاله پهٔ نزد نه قبلېږي. (پاچاه خان)

(62) دهرې ژبې ويونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده، پښتون چې خپلې ژبې ته ترقي نه ده ورکړې، دې کې د پښتو ژبې څه ګناه ده، ګناه خو زما او ستا ده.

(پاچاه خان)

(63) پهٔ هر قوم کې چې اختلاف پيداشي، که هرڅومره زورور قوم هم وي بې کاره شي، او دهغوی طاقت د يو او بل پهٔ غورځولو کې صرف شي.

(پاچاه خان)

(64) مونږ همېشه پهٔ خپل خيال پسې ځو، دبل فکر نه کوو، دا يو لوی کمی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پاچا خان)

(65) فقر هغه دوړې او خاورې دي، چې د کتابتون په ناپلورل شویو کتابونو باندې کېني، فقر بې خوړو دشپې تېرول نه دي، بلکې فقر بې فکره ورځ تېرول دي.

(ډاکټرعلي شریعتي)

(66) پرون مې ګاونډی له لوږې مړ شو، خو په ماتم کې یې پسونه حلال شو.

(ډاکټر علي شریعتي)

(67) ستر زړونه او لوړ احساسات، ښکلي او ځلانده مینې رامنځ ته کوي.

(ډاکټر علي شریعتي)

(68) نه مرګ دومره ویرونکی دی او نه هم ژوند دومره خوږ ده، چې لپاره یې سړی خپل عزت تر پښو لاندې کړي. (ډاکټر علي شریعتي)

(69) هغه ورځ چې تول دشکلو سترګو په لټه کې وي، نو ته دشکلو کتلو په لټه کې وه اوسه. (ډاکټر علي شریعتي)

(70) ستونزې ستر خلګ نور هم لوړه وي، او واړه خلګ نورهم وار خطاء کوي.

(ډاکټر علي شریعتي)

(71) ایمان څومره ښه شی دی، څه بد کوي هغه کسان چې انسانان له ایمان څخه خلاص کړي. (ډاکټر علي شریعتي)

(71) اخلاص په ژوند کولو کې ربښتنولي په مینه کې صداقت او په اوسېدلو کې ربښتنولي پیداکوي. (ډاکټر علي شریعتي)

(72) عقل دالله تعالی تر ټولو لوی نعمت دی، وروسته دعقل څخه خاکساری او دخپل روح او ځان برابري ده، که دغه دوه نعمته له شجاعت سره یو ځای شي، چې څلورم نعمت دی، نو دریم نعمت یعنې عدالت ترې جوړېږي .

(افلاطون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(73) د ښو او نېکو اخلاقو خاوندان تل په دې فکر کې وي، چې ښه نوم ورڅخه په یاد پاتې شي.** (افلا طون)

**(74) دنیا ته نه راتلل له ناپوهي څخه بهتره دي، ځکه ناپوهي د ټولو بدبختیو مور ده.**

(افلاطون)

**(75) څوک چې د ځان ښایست د روح له فضلیت څخه بهتر ګڼې، خپل روح ته سپکاوی کوي، خپل روح ته سپکاوی روا ګڼي، ځکه په واقعت کې ځان له روح څخه ارزښتمن ګڼي، په داسې حال کې چې هغه پر ځمکه پیداکیږي، هیڅکله له آسماني څیزونه څخه لوړ کېدای نشي، هغه څوک چې نه پوهیږي روح یو آسماني موجود دي، په دې هم نه پوهیږي چې خپله روح له یو واړه یا ناڅیز شي څخه سره برابروي.**

(افلاطون)

**(76) پوهه او هوښیارې بهترینې همغږی دي، یواځې هغه څوک له دې څخه برخمن کیدای شي چې په هر قدم کې د عقل له قوانینو څخه پیروي وکړي، هغه څوک چې له دغه خدایي ورکړې څخه بې برخې وي، هم خپل کور او هم خپله ټولنه د تباهی لور ته بیایي.**

(افلاطون)

**(77) د انسان ارزښت درې شیان دي: علم، محبت او آزادي.**

(افلاطون)

**(78) عوام شتمن خلک خوښوي، او خاص خلک عالمان او پوهان خوښوي.**

(افلاطون)

**(79) هر څوک چې د نورو دنېکمرغي غوښتونکی وي، لرې نه ده چې خپله به یې نېکمرغي په نصیب شي.**

(افلاطون)

**(80) د نېکمرغي دلاسته راوړلو لپاره باید نیک اخلاق پیاوړي او دبدو اخلاقو سره مبارزه وکړو.** (افلاطون)

**(81) حکومت د یو فرد په شان دی، او دنده یې د اخلاقي فضایلو په دایره کې د خلکو روزل دي، دیوکس له نېکمرغي څخه دټولنې نېکمرغي ډېره غوره ده.**

(افلاطون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(82) خندا د ژوند له ستونزو سره د جنګ ډېره ستره وسیله ده.**

(اناتول فرانس)

**(83) مور دحق رضا ده، دهغې رضا د رب رضا ده، باید خپل رب راضي وساتو.**

(اناتول فرانس)

**(84) دنیا ډېره پراخه او د ټولو مخلوقاتو ځای ده، د نورو د ځای نیولو پهٔ ځای هڅه وکړئ خپل حقیقي ځای پیداکړئ.**
(چارلي چاپلين)

**(85) کله چې ژوند تاسو ته دژړېدلو سل لارې ښیه یې، تاسو ورته د خندیدو زر لارې وښایئ.**
(چارلي چاپلين)

**(86) د ښو کتابونو لوستل له ښو او شرافتمنده کسانو سره خبرې کول دي.**

**(87) د نورو خپلول دهغوی پهٔ هیلو او ارمانونو ځان پوهول دي.**

**(88) پرخپل ځان کې د الله نعمتونو راپهٔ زړهٔ که او وګوره چې الله تعالی څومره نعمتونه درباندې لورولي.**

**(89) زمونږ دنسل تر ټولو ستره لاسته راوړنه داده، چې کولی شو د خپل فکر دبدلولو له لارې خپل ژوند بدل کړي.**
(ویلیم جیمز)

**(90) لکه څنګه چې د نورو حال او احوال مونږ ته ښه ښکاري، دغه ډول زمونږ وضعیت هم نورو ته تر خپل وضعیت ښه ښکاري او پر دې خوشحاله کېږي چې ژوند یې له مونږ سره بدل کړي.**
(شیو کهرا)

**(91) هغه کسان چې نه پوهېږي څه ډول فرصتونه تشخیص کړي، له ډېرو کوچنیو نیمګړتیاو شکایت کوي.**
(شیو کهرا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(92) په خپل وخت دسمي پرېکړې کول په بریالیتوب کې حیاتي ارزښت لري، او په نامناسب وخت کې د سمي پرېکړې کول د ناسمو کړنو سبب کېږي.**

(شیو کهرا)

**(93) خپل منزل ته ځان ورسوئ، کټونکی هرې ستونزې ته حل لاره لري، او بایلونکی د هرې حل لارې لپاره یوه ستونزه لري.**

(شیوکهرا)

**(94) بدبین او منفي خلک کله چې کومه ستونزه هم ونه لري خپه او غمجن وي، ځکه دوی دصبا له غمجنو وپرېږي، اصل کې صبا لا راغلي هم نه ده.**

**(95) منفي خلک سره له دې چې پوهېږي سخت کار تر ننه هم څوک نه دي وژلي، خو بیا هم په دې باور وي چې ولې ګواښ ومني**

(شیوکهرا)

**(96) کیدای شي یو څوک لوړې زده کړې ولري، خو دقضاوت ځواک یې کمزوری وي.**

(شیوکهرا)

**(97) یو کس چې زده کړې ولري یایې ونه لري خو چې لاندې پنځه مهمي ځانګړتیا وي ولري حتما بریالی کیدلای شي: وړتیا، ژمنتیا، باور، تواضع، زړورتیا، ژوندي دایرة المعارف مقصد هغه تولې وړتیاوې چې په ځان کې یې لري.**

(شیوکهرا)

**(98) څومره چې له جهالته دځان خلاصون لپاره هڅه نه کول دشرم وړ دی، جهالت پخپله دومره شرم وړ نه دی.**

(شیوکهرا)

**(99) لکه بدن مو چې هره ورځ ښو خوړو ته اړتیا لري، دغه ډول ذهن مو هره ورځ غوره افکارو ته ضرورت لري.**

(شیو کهرا)

**(100) هغه کسان چې مسؤلیت منونکی دي، په خپله پرېکړې کوي او خپل برخلیک په خپله مشخص کوي.**

(شیوکهرا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(101) تر ګټلو په ډېرو څټلو له ستونزو نه شئ خلاصېدای. (ابراهام لنکلن)

(102) ښه لارشود تاسو ته دځښلو لپاره څه نه درکوي، بلکې تنده درکوي، دوی تاسو ته ځواب نه درکوي، بلکې پر هغو لارو مو برابروي چې تاسو ځواب ترې موندلی شئ.

(شیو کهرا)

(103) هر سړی غواړي چې بریالی شی، خو لږ کسان غواړي د بریالیتوب لپاره چمتوالی ونیسي. (وینس لومباردي)

(104) پر نفس اعتماد له چمتووالي را منځ ته کیږي، او چمتوالی له پلان او تمرین پرته ناشونی دی. (شیوکهرا)

(105) هغه کسان چې سطحي فکر کوي پر جانس باور لري او هغه کسان چې پیاوړی اراده لري هغوی د علت او معلول پر فلسفه باوري دي. (شیوکهرا)

(106) بد مزاجه او بد اخلاقه خلګ خپل هم پردې کوي او نېک اخلاقه کسان پردي هم خپلوي

(107) کوم خلګ چې په خپلو کارونو کې بوخت وي، نو هر څوک به یې عزت او درناوی کوي.

(108) ناوړه خیالات، فکرونه او ناوړه افکار د انسان روح او بدن دواړه ناروغه کوي.

(109) په یاد ولرئ، فکرونه یا زمونږ ژوند جوړوي او یایې بربادوي، داهم په یاد ساتئ، چې ددې دواړ پرېکړه زمونږ په لاس کې ده.

(110) کوشش وکړئ چې په هره خبر اور وانه خلئ، د هرې خبرې ښه او بد اړخ په سم ډول وسنجوئ، له تحلیل څخه کار واخلئ او په نورمالو مغزو سره پرېکړه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(111) تاسو چې څه ډول فکر یا سوچ لرئ، خو مسؤل يې تاسي یاست، د بریالیو او ناکامو خلکو ترمنځ بنسټیز توپیر دادی، چې بریالي خلک دخپلو عملونو، کړنو او پایلو مسؤلیت په خپله مني، او په خپله ناکامي کې سل سلنه مسؤلیت په غاړه اخلي.**

(ډیل کارینګي)

**(112) په ایمان باندې غم، تکلیف او فکرونه له منځه ځي، ایمان د مؤمنانو دسترګو سړوالی او د عبادت کوونکو تسلي ده.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(113) کوم وخت چې تېر شو هغه بیا لاس ته نه راځي، ځکه نو په فکر کې يې مه اوسه.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(114) پرقضاء راضي کېږه، کومه روزي چې په تقدير کې وي پر هغې شکر وکاږه، هر څه د تقدير په مټ کېږي، ځکه نو دخپګان مجال نشته.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(115) په الهی ذکر زړونو ته ډاډ پیداکېږي، د ګناهونو پېټی سپکېږي، علامه الغیوب خوشحاله اونور خپه کېږي.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(116) د چا د منني انتظار مه کوه، صرف د الله الصمد ثواب بسنه کوي، دمنکرينو انکار او کينه کوونکو له کيني تاسو ته هېڅ زيان نه رسيږي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(117) چې سهار کړې دماښام انتظار مه کوه، د نن ورځې په چوکاټ کې اوسه او دننۍ ورځې سمون کوشش کوه.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(118) وخت راتلونکی دی، دصبا فکر مه کوه چې نن جوړ يې صبا به هم همداسي يې.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(119) خپل زړه له کيني، تعصب، نفرت اونورو دبنمنيوو پاک کړه، داتول رنځونه دي اروا ناروغه کوي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(120) له خلکو سره ښه سلوک کوي، په کور کې زيات اوسيږئ، په خپل کار پسې کار کوئ، له خلکو سره لږ کتنه کوئ.**
(دخوښ اوسېدو اصول)

**(121) کتاب ښه ملګرى دى، دهغه ملګرتيا خوښه کړئ، له پوهي، علم، هنر او معرفت سره تل دوستي وساتئ.**
(د خوښ اوسېدو اصول)

**(122) کائنات لوى پاک خداى جل جلاله په ډېر منظم او ترتيب پيداکړي، ځکه نو تاسو هم د کور په چارو، چامو اغوستلو او تولو درسپارل شو دندو کې نظم او ترتيب رامنځ ته کړئ.**
(د خوښ اوسېدو اصول)

**(123) خلاصي فضا ته ولاړ شئ، په ښو باغونو کې سيل وکړئ، د الله په مخلوق او د خالقيت په ايجاد کې فکر وکړئ.**
(دخوښ اوسېدو اصول)

**(123) پياده تګ ډېر کوئ، ورزش کوئ، سستي، ورک نومي اوبې کارې څخه ځانونه وساتئ.**
(د خوښ اوسېدو اصول)

**(124) تاريخ ولولئ، پر ښوونو او عجائبو کې يې فکر کوئ، له کېسو اونادرو يې خوند واخلئ.**
(دخوښ اوسېدو اصول)

**(125) ژوند ته نوى بڼه ورکوئ، نوى طريقې زده کړئ، او په ورځنيو چارو او کارونو کې نوښت راولئ.**
(د خوښ اوسېدو اصول)

**(126) ويښوونکى کارونه وکړئ، چېلم، سګرېټ، نسوار او نور څخه ځانونه وساتئ.**
(د خوښ اوسېدو اصول)

**(127) دخپلو کالو پاکوالي ته ډېر خيال ساتئ، عطر لګوئ، مسواک يا بروش وهل مه هېروئ، خو ظاهر ته پام کوئ.**
(دخوښ اوسېدو اصول)

**(128) د غم، سستي، ناهيلي او افسوس پيداکوونکو کتابونو څخه ډډه وکړئ.**
(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(129) په یاد لرئ؛ د الهي عفوې لمن پراخه ده، الله توبه قبلونکی ده، دبندګانو له جرمونو تېرېدل کوي او بدی په نېکی بدلوي. (د خوښ ژوند اصول)

(130) په دین، عقل، صحت، سترګو، غوږونو، رزق او اولاد د الله شکر ادا کړئ.

(دخوښ ژوند اصول)

(131) ایا تاسو خبر نه یئ، چې په خلګو کې کم عقل، ناروغ، زنداني، فلج او مصیبت ځپلي هم سته. (دخوښ ژوند اصول)

(132) د قرانکریم په ملګرتیا کې ژوند تېر کړئ، هغه یاد کړئ، د اورېدلو په وخت ورته ښه غوږ شئ، او تلاوت یې کوئ، دغم او رنځ په لرې کولو کې دا ترټوله پیاوړي او مجربه نسخه ده. (د خوښ اوسېدو اصول)

(133) پر لوی او مهربانه الله توکل کوئ، هره معامله هغه ته سپارئ او په حکم یې راضي کېږئ، او پر دې باور وکړئ چې هغه ستاسو لپاره بسنه کوي.

(دخوښ اوسېدو اصول)

(134) څوک چې پر تاسو تېری کوي هغه ته عفوه کوئ، څوک چې ستاسو سره اړیکی پرې کوي تاسو یې غوڅوئ، څوک چې مو بې برخي کوي تاسو هغه عمل مه ورسره کوئ، څوک چې بد کوي تاسو یې وزغمئ، تاسو به تل خوښ اوسئ.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(135) لاحول ولا قوة الابالله بیاــبیا وایاست، په دې سره مو سینه خلاصېږي، د وخت سمون ورسره کیږي، بارونه مو سپکیږي، او الله راضي کیږي.

(دخوښ اوسېدو اصول)

(136) اسغفار زیات وایاست په روزي کې پراخي، اولاد، کتور علم، او اساني درته پیدا اوګناه کمیږي. (د خوښ اوسېدو اصول)

(137) پر خپل خدای درکړي شکل، په خپله ورتیا، په خدای درکړي کته، په خپل اهل وعیال قناعت غوره کړئ، تاسو به تر ټولو ډاډمن او نېک بخت یاست.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(138) په دې پوه شه چې له سختي سره اساني مله وي، له غمونو سره خلاصون وي، حالات تل يو حال نه وي، دا د زماني دستور دی چې اوړي را اوړي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(139) نېک فال نيسه ناهيلی کېږه مه، له خپل رب څخه د ښو اميد ساته او دهر خير او نېکي انتظار باسه.**

(د خوښ ژوند اصول)

**(140) الله جل جلاله چې ستا لپاره څه مقدر کړي په هغو خوښ شه، ځکه د هغه په مصلحت ته نه پوهېږي، کله سختي تر اساني غوره وي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(141) په مصيبت د الله او بنده ترمنځ فاصله کمېږي، ته دعا کوه مصيبت، کبر، غرور اوفخر ختموي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(142) ته پخپل زړه کې دهغو نعمتونو خزانې يادې ساته چې الله درکړي دي.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(143) له خلکو سره ښه راشه درشه او ښه کوه، دناروغ په پوښتنه، بې وزله په مرسته، اوپر يتيم په شفقت ته داډمن کېږې.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(144) له بد ګومانۍ ځان ساتئ، له ناوړه فکرونو خيالونو ځانونه خوندي کړئ.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(145) پوه شئ چې په ستونزو او کړاونو کې تاسو يوازې نه ياست، له غم او فکره څوک هم خوندي نه دي، سخت حالات د هر فرد په وړاندې راځي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(146) يقين وکړئ چې دنيا د ازموينو، ابتلاګانو، غمونو او سختيو ځای دی، ځکه نو دا دنيا همداسې ومنئ او له مهربانه الله څخه مرسته وغواړئ.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(147) چاته چې غم رسیږي الله یې اجر ورکوي، یعني رنځ وغم، لوږه وفقر، ناروغي وقرض، افات او مشکلات ومصائب چې چاته رسیږي الله یې اجر ورکوي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(148) یوه شئ چې ستونزې سترګې خلاصوي، زړونه ژوندي کوي، نفس له خواهشاتو راګرځوي، انسان ذکر ته متوجي کوي او ثوابونه ګټي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(149) د ښېښو انتظار کوئ، تر هغو چې دغم یقین مو نه وي شوي پر چتي افواهاتو او تورونو زړۀ مه خرابوئ.

(د خوښ او سېدو اصول)

(150) له کین کښو، سخت زړونو، او غیبت کوونکو سره مه کینئ، ځکه هغوی د روح تبې دي، بد ویروس خپروي او د غمونو امبارونه راوړي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(151) تل تکبیر تحریمت نیسه، پۀ مسجد کې زیات اوسه او خپل ځان د دې عادت کړه، لمانځه ته ژر ځه نو تل به خوښ اوسې.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(152) له ګناهونو لیرې اوسه ځکه چې دغم او خپګان سبب دي، د همدې ګناهونو له امله مو پر سرونو د افتونو سمندرونو پۀ څپو دي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(153) لا إله الاانت سبحانک انی کنت من الظالمین تل وایه، ځکه چې د ستونزو پۀ اوارولو او د ازموینې پۀ اسانه کولو کې دا دعا ډېره موثره ده.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(154) ستاسو پۀ اړه چې کومه ناوړه خبره وشي ویونکي ته ستونزې زیږوي تاسو ته نه، له دې هیڅ اغیزمن نه شې.

(دخوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(155) که دښمن تاسو ته بد وايي، کینه کوونکي بښکنځل کوي، نو له دې ستاسو درناوی نور هم زیاتیږي، د دې معنا داده چې تاسو ارزښت لرئ، ستاسو یادونه کیږي.

(دخوښ اوسېدو اصول)

(156) یوه شه چې څوک ستا غیبت کوي، خپلي نیکی تاته درکوي، ستاسو بدی ختموي، او تاسو شهرت پیداکوئ، داهم یو نعمت ده.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(157) خالص توحد خپل کړئ په دې سره سینه خلاصیږي، څومره چې توحید خالص وي هغومره په عمل کې اخلاص وي او بنده نیکبختي ته رسوي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(158) زړور اوسه، عمل کونکی او ثابت قدم شه، ستاسو ســـره باید همت او هوډ وي، مشکلات، خندونه اوبې ځایه خبرې دي ستاســـو دمنزل په وړاندي خندونه شي.

(د خوښ او سېدو اصول)

(159) سخا کوه ځکه دسخي سینه پراخه وي زړه یې سم وي، بخیل تنګ زړۀ، غم ځپلی او د ناسمو افکارو خاوند وي. (د خوښ اوسېدو اصول)

(160) له خلکو سره په ورین تندي مخ کیږئ، له هغوی سره مینه کوئ، نرمي او خوږې خبرې ورسره کوئ، عاجزي کوئ، نو به هغوی هم ستاسو درناوی وکړي.

(دخوښ اوسېدو اصول)

(161) دبدو په مقابل کې ښه ورسره وکړه، له خلکو سره نرم سلوک کوئ، دشمنی ختمې کړئ، له دښمنانو سره سوله وکړئ، او د دوستانو شمیر زیات کړئ.

(د خوښ او سېدو اصول)

(161) د نیک بختی له سترو دروازو یوه هم د مور او پلار دعا ده، دا غنیمت وګڼه تر څو ستاسو لپاره د هرې بدی دعا ډال شي. (د خوښ اوسېد وصول)

(162) خلک چې په کوم حال کې وي هغه ترې ومنه، له هغو چې څه ترې هېر شوي وي ور تېر شه، عفوه او تېرېدنه الهی سنت دي. (د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(163) د نورو په شان مه کېږه، بلکې حقیقت ومنه، تاسو له خلکو ولې هغه څه غواړئ چې خپله یې نه شئ کولای، ځکه نو عدل کوئ.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(164) ساده ژوند کوئ، له بخل، اسراف او بې ګټې خرڅې ځځه ځانونه ساتئ، بدن چې څومره پنډېږي روح کمزوري کېږي.
(دخوښ اوسېدو اصول)

(165) په بېلا بېلو ځایونو کې د ذکر اهتمام کوئ، ځکه دا تاسو خوندي کوي، په دې کې هغه خیر او ښېګڼه ده چې ستاسو ورځ به ښه وي، د کارو لپاره مهال وېش وټاکئ، تول په یوه وخت کې مه کوئ، خو په وقفه ــ وقفه یې کوئ، ترمنځ یې آرام کوئ څو په ښه ډول کار پای مومي.
(دخوښ اوسېدو اصول)

(166) په کور، مال، اولاد، مسؤلیت، صورت اوشکل کې هغه چاته پام کوئ، چې تر تاسو کم وي، تر څو یوه شئ چې تاسو تر زرګونو ستر یاست.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(167) په دې یوه شئ چې ورور، خور، زامن، لوڼې، دوستان او ملګري له هر چا سره چې ستاسو اړیکي وي، هغه له عیبه خالی نه دي ځکه نو تول چې څرنګه وي همامغسې یې قبول کړئ.
(د خوښ اوسېدو اصول)

(168) څومره وړتیا چې لرئ، په کومه پیمانه علم چې لرئ، څومره روزي چې درکول شوي ده، او څه کار چې تاسو ته مناسب وي، هغه تول په مناسب ډول وکړه.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(169) پر خلکو او ډلو د خولې حملې مه کوه، ژبه خوندي ساته، ښه خبره کــوه، خواږه الفاظ او جملې وایه، هیچاته هم زیان مه رســوه.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(170) په زغم عیبونه پټېږي، په عفوه کولو پر تېروتنو پرده لوېږي، سخا یوه ستره جامه ده چې معیوب او کمزورې پرې پټېږي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(171) يوه شيبه يوازې شه په خپلو چارو کې غور او فکر وکړه، له خپل ځان سره حساب وکړه، د آخرت په اړه سوچ وکړه، خپل ځان اصلاح کړه.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(172) ستاسو د کور کتابتون ستاسو لپاره شين بڼ دی، په هغه کې له يوهانو، حکيمانو، اديبانو او شاعرانو ســـره سيل وکړه. (د خوښ اوسېدو اصول)

(173) حـلال رزق وګټه، له حرامو ځان وساته، له خلګو ســـوال مه کوه، تجارت تر مسؤليت غوره ده، خپل مال په کاروبار کې ولګوه، په ژوند کې ميانه روي غوره کـــړه.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(174) د منځنی درجې جامه اغونده نه دعياشي کوونکو او نه د بې وزلانو، جامه خپله امتيازي نښه مه ګرځوه، د عامـو خلګو په شان اوسه.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(175) غوصه مه کوئ، په غوصه طبيعت خرابيږي، اخلاق بدليږي، او په تولنه کې ناولتوبونه زيږوي، ميني او اړيکې غوځوي. (دخوښ اوسيدو اصول)

(176) د نن کار صبا کول، له دې ډول وروستوالي څخه ځانونه ساتئ، ځکه دا دناکامی سبب دی. (د خوښ اوسېدو اصول)

(177) په پرېکړه کې زړه نازړه کېدل پکار نه دي، بلکې په پوره صبر او عزم وړاندي ګام اخلئ. (د خوښ اوسېدو اصول)

(178) نېک اعمال، پر غمونو صبر، توبه، دمسلمانانو دعا، د الله جل جلاله رحمت، او درسول الله صل الله عليه وسلم شفاعت د ګناهونو مکفرات (ختمونکي) دي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(179) خيرات ورکوئ که څه هم لږ وي په دې ګناه ختميږي، زړهٔ خوشحاله کيږي، ناسم فکر ليرې کيږي او په رزق کې زياتوب راځي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(180) د ژوند نمونه (رهبر) رسول الله وګرځوئ، همدا مو د نېکبختۍ لورته بيايي، هغه له مونږ سره په خلاصون او بري کې مرسته کونکی دی.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(181) هسپتال ته ورشئ چې دصحت قدر وپېژنئ، زندان ته ورشئ څو آزادي وپېژنئ او لېونتون وکورئ څو د هوښیارۍ قدر وپېژنئ، دا هغه نعمتونه دي چې تاسو ته يې ارزښت نه دی معلوم. (د خوښ اوسېدو اصول)

(182) معمولي خبري مو مات نه کړي، خبره چې څومره اهميت لري په هماغه اندازه پام ورته کوئ، په پېښو او چارو کې له زياتوبه کار مه اخلئ.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(183) خپل دښمنان په خپل غم، غصه، ستونزو او مصيبتونو مه خوشحاله کوه، هغوی همدا غواړي چې ستاسو د ژوند فضا غمجنه کړي، دهغوی شوم هدف او هيله مه پوره کوئ. (دخوښ اوسېدو اصول)

(184) په خپل زړه کې له خلکو سره دښمني، بغض، کينه او تعصب ته ځای مه ورکوئ، ځکه دابه ستاسو لپاره يو بېل عذاب جوړ شي. (د خوښ اوسېدو اصول)

(185) د خپل مجلس فضا معطره لرئ، ښه خبره کوئ که نه پته خوله اوسئ، له خلکو سره په ورين تندي مخ کېږئ، په مجلس کې د برخوالو درناوی وکړئ، دهغوی خبره واورئ او خبري يي په منځ کې مه پرېکوئ. (د خوښ اوسېدو اصول)

(186) مچ له ځانه مه جوړوه چې په هر ځای کيني، د خلکو د عزت او ابرو احترام کوئ، دچا عيب مه وايه او مه يې د تېروتنو او کميو په موندلو خانده.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(187) د حرامو شيانو په ليدلو تکليف، غم او پر زړه تپ پيدا کېږي، څوک چې سترګې ټيټې ساتي او له خپله ربه ډارېږي هغه نېکبخته دي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(188) د پېښو پر وخت له بدو نه دبدې واقعې پېښو احتمال تمه کوئ، د همدې منلو ته ذهن چمتو کړئ، په دې ســـره تاســـو ته ډاډ پيداکېږي. (د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(189) د پاک خدای جل جلاله رحمت ته وګورئ، چي زاني ښځي ته يي ديوه سپي پۀ تنده ماتولو ښښنه وکړه، هغه ته يي ښښنه وکړه چي سل کسه يي وژلي وو، هغه ذات دتوبه کښونکو توبه قبلوي ان چي نصرانيانو ته هم دتوبې بلنه ورکوي.

(دخوش اوسپڅو اصول)

(190) مه خپه کيږئ، کله چي پۀ غوصه شئ، پته خــــوله کيږئ، دشيطان له شره پۀ الله پنا وغواړئ، ځای بدل کړئ، که ولاړ واست کښنئ،او زيات ذکر کوئ.

(د خوش اوسپڅو اصول)

(191) پر تېرو فکر حماقت او ليونتوب دئ، لکه چي څوک وره څښني، څيرې شوی شی څيرې او مړی له قبره راپورته کوي.
(د خوش اوسپڅو اصول)

(192) کوم غم چي درته رسېدلی هغه ګرزېدونکی نه وو او کوم چي درته رسېدلی نه دی هغه رسېدای نه شوای، قلم وچ شوی دی او پر فيصله له خوښی پرته بله چاره نشته.

(د خوش اوسپڅو اصول)

(193) له الهی رحمته مه ناهيلي کيږئ، دهغه مرسته مه هېروئ، دالله مرسته ستاسو تر تصوراتو لوړه ده.
(دخوش اوسپڅو اصول)

(194) خپل زيانونه پۀ ګټه تبديل کړه، له ليمبو خواږه شربت جوړ کړه، د غم پۀ اوبو کي يو موټ بوره واچوئ، هڅه وکړئ چي حالات له خپلو ګټو سره سم جوړ کړئ.

(د خوش اوسپڅو اصول)

(195) فکر مو مه بې لاري کوئ، څومو هغه دفکري نړی شيلو ته نه يوسي، هڅه وکړئ چي دنعمتونو، ورتياو او برياو پۀ اړه فکر وکړئ.

(د خوش اوسپڅو اصول)

(196) د ستونزو پۀ اواري کي لمونځ غوره مرسته کونکی دی، هغه نفس لوړو پوړو ته رسوي او روح د روښنايي او برې لور ته بيايي.

(د خوش اوسپڅو اصول)

(197) ښه ګټور او ميوه لرونکی عمل نفس د شر له احساساتو، ناوړه فکرونو او حرامو ته له ميلان کولو ساتي.
(د خوش اوسپڅو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(198) څــوک چې ښه مودب، سليم ذوق او غوره اخلاق ولري، هغه خپل ځان او خلک خوشحاله کوي او زړۀ يې مطمئن وي.** (دخوښ اوسېدو اصول)

**(199) پوهه سينه خلاصوي، فکر پراخوي، له غم، فکر او انديښنو څخه مو خونديې کوي.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(200) کله چې انسان ځان وپېژني، خپله وړتيا ورته معلومه شي او په ښه ډول کار ترې واخلي، نو برى به دهغه قدمونه ښکلوي.** (دخوښ اوسېدو اصول)

**(201) پوهه، تجربه او زده کړه تر زيات مال ښه ده، د اسبابو په موندلو څاروي خوښيږي او په زده کړه انسان خوشحاله کيږي.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(202) له مېږه او ښځې که يو څه شي بل دي پته خوله اوسي، دواړه دي يو دبل کمي زغمي، ځکه انسان له تېروتنو خالي نه دى.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(203) څوک چې ښځه، کور، روغتيا او مناسب مال ولري نو له هغه سره دښه ژوند سامان شته، د الله شکر اداء کول پکار دي او پرې قناعت کول اړين دي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(204) څوک چې الله رب مني، اسلام دين مني اورسول الله صل الله عليه وسلم رسول مني، اوپرې راضي هم وي الله به له هغه؟ راضي شي، همدا درضا ارکان دي.**

(دخوښ اوسېدو اصول)

**(205) برى هغه وخت منل کېداى شي، چې الله هم ستا څخه راضي شي، ستاسو دسيمي او تولني خلک هم ستا څخه راضي شي او خپله ستاسو نفس هم، په دې وخت کې ستاسو کار ښې پايلې لري.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(206) خور ديوې ورځې نېکمرغي ده، سفر د يوې اونۍ نېکمرغي ده او واده ديوى مياشتې، مال د يوه کال خو يوازې ايمان دټول عمر نېکمرغي ده.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(207) تاسو صرف په خوړلو، څښلو، ويډيلو او وأده کولو نېکمرغي نه شئ پيداکولای، بلکي په کار نېکمرغه کيږئ او کار هغه شی دی چي ستر خلک ستر کوي.**

(د خوښ اوسيدو اصول)

**(208) چاته چي دلوستلو وخت پيدا شي هغه نېکمرغه دی، ځکه هغه دنړی له باغونو خوند اخلي، عجائبات ويني، په يو وخت او يوځای کي ورسره سفر کوي.**

(د خوښ اوسيدو اصول)

**(209) د ملګرو په خبرو غم ليرې کيږي، ښه طبيعت انسان ته آرام ورکوي، دشعر په اورېدلو راحت پيداکوئ.**
(د خوښ اوسيدو اصول)

**(210) ژوند تاسو پخپلو سترګو وينئ، ژوند ستاسو دفکر احسانمند دی، ځکه نو پخپلو سترګو توري پردې مه اچوئ.**
(د خوښ اوسيدو اصول)

**(211) د هغه په اړه فکر وکړئ چي ورسره مينه لري، ځکه هغه ستاسو او ستاسو د فکر په هيڅ نه پوهيږي.**
(د خوښ اوسيدو اصول)

**(212) د نېکمرغي نسب په سرو اوسپينو زرو کي نه دی، بلکي نېکمرغي په دين، پوهه، ادب او د اړتياو په تکميل کي ده.**
(د خوښ اوسيدو اصول)

**(213) الله تعالی ته هغه بندګان زيات خوښ وي، چي په ښه کار اخته وي، له خلکو سره ښه سلکوک کوي، او ډېر شکر ايستونکی وي.**
(د خوښ اوسيدو اصول)

**(214) که تاسو پرخپل حال خوښ نه ياست نو دهغي خوښي انتظار مه کوه چي له افقه راځي يا له اسمانه نازليږي.**

(د خوښ اوسيدو اصول)

**(215) کوم ذات چي مو پرون مرسته کوله هغه يي نن هم کوي او صبا يي هم کوي، پر هغه ذات باور وکړه، کله چي هغه ستا سره وي نو له چا ډارېږې، او که هغه ستاسو خلاف وي نو له چا هيله کيدای شي.**
(د خوښ اوسيدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(216) له خوشحالي څخه په ځان او نفس کې ځالاکي راځي، زړه ته آرام پيداکيږي، په غړو کې توازن راځي، پياوړتيا پيداکوي، ژوند قيمتي کيږي، او عمر ګټور ثابتيږي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(217) د زماني په ساعتونو کې يوه کليمه ده، د نېکمرغي په قاموس کې يوه کليمه ده، خوښي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(218) کله چي له کوم کرکېچ سره مخ شئ، فکر وکړئ چي تر اوسه تاســـو له څومره بحرانونو سره مخ شوي ياست، الله تعالی له هغو څخه خلاصون درکړ نو حتمي ده چي اوس به هم خلاصون درکړي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(219) غـــوره داده چي تل کتاب په لاس کې ونيسئ، ځکه له دې پرته وخت ضايع کيږي، د وخت خونديتوب بښه لار کتاب لوستل دي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(220) د پرېکړې کولو پر وخت د هغې په هر اړخ فکر وکړئ بيا استخاره کوئ، له باوري کسانو مشوره غواړئ، کـه کاميابي شـــوه نو هدف ته به رسېدلي ياست او که ناکامي وه پښېمانه به نه ياست.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(221) نېکمرغه دي هغه څوک چي الله په خلکو کې محبوب کړي دي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(222) څوک چي متقي، فکر يې ايماني او اخلاق يې غوره او ښايسته وي، نو د الله او خلکو مينه به هم تر لاسه کړي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(223) سست او ورک نومی په حقيقت کې غمجن وي، ځالاک او خوځنده اوسېدل پکار دي.

(د خوښ او سېدو اصول)

(224) د ژوند خوند د غمونو او تفکراتو تر لذت څو واري زيات وي، البته د دې لذت حصول په ښه پوهه کېدای شي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(225) که شخه د ټولې نړۍ ملکه شي د جهان سندونه هغې ته ورکول شي، خو که مېړه يې نه وي مسکينه ده.
(د خوښ اوسېدو اصول)

(226) ښه ژوند دادی چې ستا ځواني د لوی هدف، ښه فـــکر او انساني ښېګڼو لپاره تېر شي.
(دخوښ اوسېدو اصول)

(227) د نورو پر ځای خپل ځان ملامت کړئ، نور پرېږدئ څکه تاسو خپله هم دومره عيبونه لرئ چې په ســـمون کې يې وخت لګيږي.
(د خوښ اوسېدو اصول)

(228) تر غوره ښاري سيمو او ماڼيو هغه کتاب ډېر ښه دی، چې فهم ته ځلا ورکوي، زړو ته خوښي، نفس ته مينه چې سينه پرې خلاصيږي او فکر ته ستروالی وربښي.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(229) د نېکمرغي راز په قرباني، سخاوت، بل ته تکليف نه ورکولو او ځان نه خوښونه کې دی.
(د خوښ اوسېدو اصول)

(230) په صميمانه خندا سينه خلاصيږي، زړه پياوړی کوي او سستي ختموي په عمل کې تېزي او زړه صفا يې پيدا کوي.
(د خوښ اوسېدو اصول)

(231) که يوه ګوله ډوډۍ، او وه داني خورما، د اوبو يوه پياله او په خونه کې يو پوزی او قران وي نو دنيا ته اوو سلامه وواياست.
(دخوښ اوسېدو اصول)

(232) پر عبادت کې نېکمرغي ده، صالح انسان برېمن دی، څوک چې تل اذکار وايي هغه تل استغفار غواړي، څومره چې انسان الله ته اړتيا ښکاروي هغه نېک انسان دی.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(233) ښه ملګری هغه دی چې تاسو پرې باور وي، ترې ډاډمن وئ، تاسو د زړه خبره ورته کولای شئ، پر غم مو شريک وي او راز مو نه افشا کوي
(د خوښ اوسېدو اصول)

(234) تاسو دا فکر مه کوئ، چې تاســـو هيڅ نه شئ کولای، تاســو ډېر ښه کار کولای شئ، خو د هرڅه ورتيا لرل او هر کار کول شوني نه دی.
(د خوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(235) یوه ښایسته او صالح ښځه، پراخ کور، مناسبه روزي، ښه ګاونډی داسي نعمتونه دي چي زیات خلک یې نه پیژني. (د خوښ اوسېدو اصول)

(236) ناوړه شیان هېرول، نعمتونه یادول، د خلکو پهٔ عیبونو پرده اچول دنېکمرغی نښې نښانې دي. (د خوښ اوسېدو اصول)

(237) عفوه تر انتقام ښه ده، کار کول تر بې کارۍ ښه دی، قناعت تر مال غوره دی، روغتیا تر خوښۍ ډېره ښه ده. (دخوښ اوسېدو اصول)

(238) یوازیتوب ناوړه ملګرتیا ده، او ښه نیک ملګری تر یوازیتوب ښه دی، عزت پهٔ عبادت کې دی او تفکر پهٔ اطاعت کې. (دخوښ اوسېدو اصول)

(239) کوښه کښېنستونکی د فکرونو ښکار وي، زیات ملاقاتونه بې عقلي ده، پر خلقو باور حماقت دی، او دېښمني کول له خلکو سره بدبختي دی.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(240) بد اخلاقي عذاب دی، کینه زهر دی، غیبت سپکاوی دی، او دنورو عیبونه پلټل د رسوايي خبره ده. (د خوښ اوسېدو اصول)

(241) پر نعمتونو شکر کښل بدي لیرې کوي، د ګناه نه کونکی زړهٔ ژوندی وي او پر نفس بریا دسترو خلکو کار دی. (د خوښ اوسېدو اصول)

(242) د پوهي خوشالي او لویوالي تل او همېشه وي، د مال خوشالي او ستروالی دېر کم وخت وي. (دخوښ اوسېدو اصول)

(243) پردنیا خوښي ماشومتوب دی، پر ایمان خوښي د نېکانو خوښي ده، د مال خدمت ذلت دی او دالهي رضا لپاره کار د فخر خبره ده.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(244) د همت سزا خوږه وي، د بري ټکان ارامي ده، د کار خوله مشک دی اوښه ستاینه غوره خوشبويي ده. (دخوښ اوسېدو اصول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(245)** **نېکبختي په دې کې ده چې له قران سـره مو مینه وي، پر کار تاسـو خوشالیږئ، کور مو عبادت ځای او قناعت مو شتمني وي.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(246)** **پر خوراک او مال خوشالي د ماشومانو کار دی، په ښه ستاینه لوی خلک خوشالیږي، د نېکي کار تل پاته عزت دی.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(247)** **د شپې لمونځ ورځ روښانه کوي، خلکو ته دخیر غوښتنه د زړه پاکي ده او له شره د خلاصون انتظار عبادت دی.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(248)** **په غم کې ځلور شیان دي: د اجر هیله، دصبر ژوند، ښه ذکر او دلطف وسخا تمه.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(249)** **په جماعت لمونځ، د اړو کسانو اړتیا پوره کول، له مسلمانانو سره مینه، ګناه نه کول، حلال رزق د دنیا او آخرت کامیابي ده.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(250)** **د مشرتوب هیله مه کوئ، په مشرتوب کې لوی مشکلات وي، د شهرت امید مه کوئ، له نه شهرت سره مناسبه روزي د خوښۍ خبر ده.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(251)** **دکم عقلي نښې: د وخت ضایع کول، په توبه کې ځنډ، خلک دښمن کرزول، د مور او پلار څخه سر غړونه او د رازونو افشاکول دي.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(252)** **که تاسو ته څوک ښکنځل کوي مه خپه کیږئ، ځیني خلک دالله په شان کې بې ادبي کوي، چې الله دوی پیداکړي هم وي، نو تاسو خو ډېر کم یاست.**

(د خوښ اوسېدو اصول)

**(253)** **روغ سړی په تیږه هم داسي ویدیږي لکه د وریښمو پر بستره، د اوربشو ډوډۍ هم داسي خوري لکه شوروا، په جونګړه کې داسي اوسئ ګواکي د کسری په ماڼۍ کې ژوند کوي.** (د خوښ اوسېدو اصول)

**(254)** **خوښ زړه کینه ختموي، راضي کېدونکی نفس د نفرت حشرات ختموي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د خوښ اوسېدو اصول)

(255) نيکبختي پرېشاني ختموي، پر دښمنيو او شهوتونو برى د نېکو اعمالو نوم دى.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(256) آسمان ګرځي، شپې ځرخي، ورځې اوړي را اوړي، پر يوه حال اوسېدل شوني نه دى، الله هره ورځ پهٔ نوى شان کې وي نو غم ولې کوئ.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(257) قلم ستاسو ملګرى دى، کتاب ستاسو ښه دوست دى، ستاسو ملک خپل کور دى، خزانه مو خپله روزي ده ځکه نو ځه چې تېر شول پهٔ هغه پسې غم مه کوه.

(د خوښ اوسېدو اصول)

(258) ځوک دى چې د بې وزله اواز واوري، ډوبېدونکى وژغوري او مونږ ته له ستونزو خلاصون راکړي، هغه الله دى الله.

(دخوښ اوسېدو اصول)

(259) پهٔ جهان کې ستا ماموريت د جهان بدلول نه دي، بلکې ته دخپل ځان پهٔ بدلولو مامور يې.

(مه ساده کيږه)

(260) له نورو سره مشوره يعني، د نورو د کلونو او عمرونو له تجربو څخه استفاده.

(مه ساده کيږه)

(261) هيڅکله د ځان ستاينه مه کوه، ځکه ستا دوستان ضرورت نه ورته لري او دشمنان دي باور به پرې کوي.

(مه ساده کيږه)

(261) که ته د "زهٔ وخت نلرم" د جملي د ويلو څخه ډډه وکړې، نو ژر به درته ثابته شي چې تقريباً د هر کار دکولو وخت لرې.

(مه ساده کيږه)

(262) تر غلت معلومات لرلو نه معلومات لرل ښه دي.

(مه ساده کيږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(263) پهٔ دې خبر کې فکر وکړئ، چې وايي: ښه سړی د خپل ځان ښه ملګری دی.

(مه ساده کېږه)

(264) ژوند د اميدونو لار ده، راځئ چې پر هغو لارو سره ولاړ شو پهٔ کومو چې مو بيايي.
(مه ساده کېږه)

(265) د خلکو سره داسې ژوند وکړه چې ګني خدای جل جلاله دېويني، او له خدای جل جلاله سره داسې غږېږه چې ګني خلک يې اوري.
(مه ساده کېږه)

(266) تر اندازې زياته آزادي انسان او ټولنه غلامۍ ته کشوي.

(مه ساده کېږه)

(167) زړورتوب د وېرې پهٔ وړاندې مقاومت کول او هغې باندې غلبه کول دي، نه د هغې پر موجوديت باندې سترګې پټول.
(مه ساده کېږه)

(268) نن پخپل ټول وس سره ښه ژوند وکړه، ځکه چې نن ستا دپاتې ژوند لومړی ورځ ده.
(مه ساده کېږه)

(269) فرصتونه هيڅکله ستا کورته نه راځي، بايد ته ورپسې ورسې.

(مه ساده کېږه)

(270) کار کول ورځې لنډوي، خو ژوند اوږدوي.

(مه ساده کېږه)

(271) پاک خدای جل جلاله پاکو لاسو ته ګوري، نه ډکو لاسو ته.

(مه ساده کېږه)

(272) لازمه نه ده چې وپوهيږئ، څرنګه؟ لازمه نه ده چې وپوهيږئ، چېرته؟ اما لازمه ده چې د هرکار پهٔ پيل کې له ځانه وپوښتئ، چې ولې بايد دا کار وکړم.

(مه ساده کېږه)

(273) که چېرې دې ټولې ورځې يو شان وي، نو مانا يې داده چې ته نور ژوندی نه يې.

(مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(274) په هغو ځای کې چې باید هوښیار وې، لازمه نه ده چې زړور دې هم وې.

(مه ساده کېږه)

(275) خپل خدای جل جلاله ته یوازې د توبې ویر مه وړاندې کوئ، بلکې د خپلو خوښیو شور دې هم ورته وړاندې کړه. (مه ساده کېږه)

(276) کله چې دې ستونزې ښکیل کړي او په ربړو اخته شې، نو د الله جل جلاله نوم واخله او له هغه څخه مرسته وغواړه، هغه ته سر په سجده شه، دخپلې نېکمرغی تاج په سره کړه. (مه ساده کېږه)

(277) پاک خدای جل جلاله هر الوتونکی ته دانه ورکوي، مګر دهغو ځالي ته یې نه وراچوي. (مه ساده کېږه)

(278) په ژوند کې ستاسو ماموریت بې مشکله اوسېدل نه دي، بلکې با انګیزه اوسېدل دي. (مه ساده کېږه)

(279) چانسونه او فرصتونه زیاتره د مشکلاتو په ګېډو کې پیداکېږي.

(مه ساده کېږه)

(280) که چېرې بدلون ونه کړئ، روسته پاتې کېږئ.

(مه ساده کېږه)

(281) کله چې تول له تاسو سره همفکرهشول، نو هغه وخت ویوهیږه چې اشتباه دې کړې ده. (مه ساده کېږه)

(282) بدبینه سړی هغه دی، چې د هرشي په بیه پوهیږي، خو د هیڅ شي په ارزښت نه پوهیږي. (مه ساده کېږه)

(283) هیله هغه وخت په هدف بدلیږي، چې د لاسته راوړلو لپاره یې ګام پورته شي.

(مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۸۴) رشتيني پوه هغه دی، چې انسان د خپلي ناپوهی په درجه وپوهيږي.
(مه ساده کيږه)

(285) هغه څوک چې پوهيږي، چې کومي خواته بايد ولاړ شي، نو ټول خلک لار ورکوي.
(مه ساده کيږه)

(286) ته نړی ته نابغه نه يې راغلی، ته بايد په کرار کرار نبوغ کسب کړې.
(مه ساده کيږه)

(287) هغه څوک چې له شکست څخه ډاريږي، هغه پخپل شکست باندې باور لري.
(مه ساده کيږه)

(288) هيڅکله نشي کولای خپل عيب دنورو د عيبونو په ويلو او پلټلو ســـره له منځه يوسي.
(مه ساده کيږه)

(289) هيله د قدرت او بریالیتوب مور ده.
(مه ساده کيږه)

(290) د موفقيت لار د ناکاميو څخه تيريږي.
(مه ساده کيږه)

(291) مينه يوازې په مينه کولو سره زده کيږي.
(مه ساده کيږه)

(292) انسان د يو رود په شان دی، هر څومره چې ژور شي هغومره آرام درومي.
(مه ساده کيږه)

(293) ته نه شې کولای د طوفان دريدو ته منتظر پاتې شې، ته بايد په باران کې کار کول زده کړې.
(مه ساده کيږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(294)** **هڅه مه کوه چې خپلو اعمالو ته تغیر ورکړې، که چېرې دې خپل ځان پیداکړ، اعمال به دې هم سهي شي، عمل کار دی چې هروخت یې ترسره کوې او ځان دې هغه دی لکه څنګه چې یې.** (مه ساده کېږه)

**(295)** **وګوره دژوند حکایت څومره ښکلی دی، لوبغاړی پکي ته یې، تماشه چې ته یې، کیسه لیکوال ته یې، ترانه ویونکی پکي ته یې، هو ته یوازې ته، دا ټول ته یې.**

(مه ساده کېږه)

**(296)** **لکه لمر چې په تورو غرونو راخېژي، هغه نه غواړي چې خلک راویښ کړي او هغه نه غواړي چې ګلونه وغوړوي، ته هم لکه لمر داسې شه، پرته له کومې تمې له خلکو سره علاقه ولره او له ټولنې سره مرسته وکړه.** (مه ساده کېږه)

**(297)** **په دې اقرار وکړه، چې پرون دې خطا وکړه، ځکه دا ددې مانا لري چې نن هوښیار شوی یې.** (مه ساده کېږه)

**(298)** **که چېرته همېش په خلکو قضاوت کوې، نوله هغو سره د علاقې لپاره نور وخت نه پاتې کېږي.** (مه ساده کېږه)

**(299)** **خوشالي د ژوند کوم خاص حالت نه دی، چې هغه په لاس راوړو، بلکې د ښو لحظو مجموعه ده.** (مه ساده کېږه)

**(300)** **په ځان کې وګورئ، ځواک په تغیر کې دی.**

(مه ساده کېږه)

**(301)** **په ژوندانه کې بل هیڅوک له مونږ سره دومره خیانت نه کوي، لکه مونږ یې چې له خپله له ځان سره کوو.** (مه ساده کېږه)

**(302)** **انسان د هر کار لپاره دوه دلیله لري، یو ښه او دلچسپ او بل حقیقي او واقعي، مګر واقعي دلیل عموماً پټ ساتل کېږي.** (مه ساده کېږه)

**(303)** **ستاسو دنده داده چې، ځانته دا معلومه کړئ، چې کوم کار باید ترسره کړم او وروسته په خپل ټول توان سره ترې بریالی راووځم.** (مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(304) له تانه غواړم چې قضاوت ونه کړې او ژوند په کلي ډول همداسې بې قضاوته ومنې، حيران به شې چې ژوند په مجموع کې نه ښه دی او نه بد. (مه ساده کبړه)

(305) هر ځای چې نفرتونه وي، هغلته په هره خوا کې شيطان حاکم وي.

(مه ساده کبړه)

(306) خزانه او ويرانه دواړه ستاسو په وجود کې دي.

(مه ساده کبړه)

(307) له ځانه سره ووايه: زه له هيچا نه څه نه وايم، خو که يې وايم، ښه يې وايم.

(مه ساده کبړه)

(308) سړی له اعمالو څخه عادل شمېرل کيږي، نه له ايمان څخه.

(مه ساده کبړه)

(309) هغه څوک چې د کوچني شي پر قدر پوهيږي، ستر شيان به لاسته راوړي.

(مه ساده کبړه)

(309) هغه لاسونه چې مرسته کوي، له هغو خولو نه ښه دي چې عبادت کوي.

(مه ساده کبړه)

(310) داډمن ژوند وکړه او هسې اتکلي حادثې په خپل ذهن کې مه انځوروه.

(مه ساده کبړه)

(311) خپګان ته ځان مه تسليومه، ځکه پرون په يوه مصيبت خپه شوې او نن ورڅخه مصيبتونه جوړ شول. (مه ساده کبړه)

(312) هغه څه چې مونږ لرو، په حقيقت کې د خدای جل جلاله ډالۍ ده او هغه څه چې مونږ په خپلو خدای راکړيو څيزونو سره ترسره کوو، په حقيقت کې خدای جل جلاله ته زمونږ له خوا ډالۍ ده. (مه ساده کبړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(313) طوفانونه د ونو د ريښو د لا ټينګېدلو سبب کيږي.

(مه ساده کېږه)

(314) عجيبه نه ده، مونږ په يوه لاس مشکل جوړوو او په بل لاس يې له منځه وړو.

(مه ساده کېږه)

(315) له ياده مه باسئ، شرم د ټولو نېکيو کلي ده.

(مه ساده کېږه)

(316) دروغ هيڅکله په حقيقت نه بدليږي، حتى که د وريښمو په پوښ کې يې هم وپيچو.

(مه ساده کېږه)

(317) مونږ هيڅکله دنيا ته غمجن نه راځو، مګر دا وروسته زده کوو، چې غمجن وه اوسو.

(مه ساده کېږه)

(318) دغم بهترين علاج دادی، چې يا قبول شي يا هير.

(مه ساده کېږه)

(319) خطا او اشتباه کول يو انساني خاصيت دی، مګر په هغو اصرار شيطاني خاصيت دی.

(مه ساده کېږه)

(320) د کامیابي رمز دا دی، چې حتا معمولي کارونه هم په ارزښتمن ډول ترسره کړو.

(مه ساده کېږه)

(321) هيڅکله خپل تصميم مخکې له مخکې نورو ته مه په ډاګوئ.

(مه ساده کېږه)

(322) خوشالي يعني د خپل ځان او خپل ماحول سره همغږي کيدل.

(مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(323) قهر او غوصه هغه باد دی، چې زمونږ د ذهن څراغ وژني.

(مه ساده کېږه)

(324) یوه دقیقه په قهرېدل، د شپږ سوه ثانیو خوشالۍ له لاسه ورکول دي.

(مه ساده کېږه)

(325) دومره عواقب هم مه سنجوئ، چې پکښې خپله اوسنۍ خوشالي له لاسه ورکړئ، صبا پر لوی خدای جل جلاله وسپارئ، زیاتره وخت بنې پیبنې هغه وخت پیښېږي چې هیڅکله مو په خپلو تشویشونو کې شاربلي نه وي. (مه ساده کېږه)

(326) هیڅوک ستاسې له صداقت، جرئت او بلند پروازۍ څخه خبر نه لري، مګر هغه وخت یې درلودلای شي، چې تاسې یې ورته د عمل په ډګر کې په نمایش وښایئ.

(مه ساده کېږه)

(327) همېشه په کرارۍ او آرامۍ سره فکر کوئ، مګر په تېزۍ او سرعت سره عمل کوئ. (مه ساده کېږه)

(328) ته د شرایطو مخلوق نه یې، بلکې شرایط ستا مخلوق دي.

(مه ساده کېږه)

(329) زیاتره خلک هغه وخت خپل فرصت له لاسه ورکوي، چې کار ته د یوه سخت کار ګومان کوي. (مه ساده کېږه)

(330) په هر چا باندې اعتماد کول او په هیچا باندې اعتماد نه کول، دا دواړه له ماتې او شکست سره برابر دي. (مه ساده کېږه)

(331) د رښا په لاره تلل، یعني له تیارو څخه خلاصون.

(مه ساده کېږه)

(332) دنورو عیبونه پلټل، زمونږ تر ټولو لوی عیب دی.

(مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(333) لوی فکرونه لوی هدفونه منځ ته راوړي، واړه فکرونه هوسونه منځ ته راوړي.

(مه ساده کېږه)

(334) څوک چې نه شي کولای واړه رنځونه او غمونه وزغمي، هیڅکله به لوی کارونه ونه کړي.
(مه ساده کېږه)

(335) که چېرې غواړې هر څه شي، نو هیڅ شی به نه شي.

(مه ساده کېږه)

(336) له ځان سره تکرار کړئ، زه کړېږم خو ماتیږم نه.

(مه ساده کېږه)

(337) یوازې هغه څوک کولای شي چې یو لوی موفقیت ته ورسیږي، چې د یو لوی شکست خوړلو جرئت هم ولري.
(مه ساده کېږه)

(338) ناممکن او ناشوني کارونه زیاتره هغه کارونه دي، چې د هغو لپاره تلاش نه وي شوی.
(مه ساده کېږه)

(339) که چېرې یو سړی یو وار ما غلط کړي، شرم دې په هغو وي، او که دوهم ځل ما غلط کړي نو شرم دې په ما وي.
(مه ساده کېږه)

(340) بدبخت هغه دی چې بدترین شی د بهترین شي په نامه پیژني.

(مه ساده کېږه)

(341) هر څه چې په دې نړۍ کې له لاسه ورکړې، د هغو معادل یا تر هغو بهتره به تاته درکړل شي.
(مه ساده کېږه)

(341) اوریدل زده کول دي، ته چې کله غوږ نیسې تولله هستي تاته خبرې کوي.

(مه ساده کېږه)

(342) په ناخبره ډول سره ژوند کول، هیڅکله نه شي کیدای، چې بنکلی دې وه اوسي.

(مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(343) ژوند د الوتلو، پاڅېدلو او پرمختللو لپاره يوازې يو فرصت دی، ژوند پخپل ذات کې يو خالی شی دی، تر څو خلاق ونه اوسې، نه شې کولای ژوند له خوښۍ نه سرشاره کړې.

(مه ساده کېږه)

(344) له ځان سره ووايه، له فقر څخه بېزاره يم، فقر محترم نه بولم، نه يې ستايم او نه فخر ورباندې کوم.
(مه ساده کېږه)

(345) صبا ته... که ورځ راغله...که ورته برابر شوم...دا تولې پلمې له ځانه وغورځوه، همدا نن داسې ورځ ده، چې يو مهم کار پکې پيل کړې.

(مه ساده کېږه)

(346) هڅه مه کوه چې د ژوند په پوهېدلو کې سر سپين کړئ، بلکې له ژوند څخه دې ژوند جوړ کړه، هڅه مه کوه چې په عشق وپوهيږئ، بلکې عاشقان شئ.

(مه ساده کېږه)

(347) هغه څه چې په خوښۍ او خوند سره زده کوو، هيڅ وخت له ياده نه وځي.

(مه ساده کېږه)

(348) هغه څه چې پخپله نه ترسره کوئ، نورو ته يې هم مه ور زده کوه.

(مه ساده کېږه)

(349) که چېرې ته له کومې اشتباه سره نه وې مخ شوی، مانا يې داده چې کوم وخت دې پوره تلاش هم نه دی کړی.

(مه ساده کېږه)

(350) څوک چې پوښتنه کوي تر پنځو دقيقو پورې ناپوه دی، او څوک يې چې نه کوي همېشه ناپوه پاتې کيږي.
(مه ساده کېږه)

(351) هره ورځ له خوبه داسې رابيدار شه، لکه دا چې دې دوهم ځل را ژوندی شوي وي.
(مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(352) لاس کتوی مه کېږه، او مه د تل لپاره د خلکو تر لاس لاندې ساه وباسه، بلکې پر خپل سر نوشت باندې حاکم وه اوسه. (مه ساده کېږه)

(353) خزانه ستا په وجود کې ده، په نورو ځایونو کې د هغو په لټه مه ګرځه، قصرونه او پلونه پردی افساني دي، ته باید پخپل وجود کې پول ورغوي او دخپل عظمت قصر ته پرې لار پیدا کړې، قصر دلته دی او خزانه هم همدلته ده. (مه ساده کېږه)

(354) دقیق شه، خپل وجود ووینه، خپل ژوند ته غوږ ونیسه او د هغو یوه ذره وه اوسه. (مه ساده کېږه)

(355) هره لحظه داسې ژوند وکړه، لکه وروستۍ لحظه دې چې وي، څوک خبر دې ښايي همداسې وي. (مه ساده کېږه)

(356) زما زړه له رنځ ځځه وېرېږي، هغه ته ووایه له رنځ ځځه وېره پخپله له رنځ نه ډېره بده ده. (مه ساده کېږه)

(357) کله چې پر واقعي توګه د یوځه غوښتونکی وې، باید وپوهیږې چې دا غوښتنه د نړی په ضمیر کې زېږېدلې ده، او ته یې د لاسته راوړلو پوازینی مامور یې. (مه ساده کېږه)

(358) چاچې وېره او ډار نه وي لیدلي، هغه به هیڅکله زړورتوب زده نکړي. (مه ساده کېږه)

(359) ژوند همدا واړه شیان دي، که چېرې په ډېرو لویو شیانو پورې زړه وتړې، نو ژوند به له لاسه ورکړې. (مه ساده کېږه)

(360) پخپل خدای جل جلاله، پخپل ځان او خپل سرنوشت باندې باور ولره. (مه ساده کېږه)

(361) تر څو چې یو کار شروع نکړې، ستاسې په ژوند کې به هیڅ تغیر را نه شي. (مه ساده کېږئ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(362) فقیرانه او حقیرانه فکر، له انسانه حقیر او فقیر جوړوي.

(مه ساده کېږه)

(363) هغه څه چې د زړهٔ له تله يې غواړې، ژوند به يې در وبښي.

(مه ساده کېږه)

(364) جرئت وکړه چې پخپله ته وه اوسې.

(مه ساده کېږه)

(365) ټینګ ایمان پهٔ هر څه کې يو عظیم باطني ځواک راوېښوي او ټولو محدودیتونو ته د پای ټکی ږدي.

(مه ساده کېږه)

(366) خپل مات لاس دې پهٔ لستوني کې پټ ساته او د خندا غږ دې ټولو غوږونو ته ورسوه.

(مه ساده کېږه)

(367) ټولې لارې يوه ځای ته ته رسي، مګر ته ځان ته پام واړوه، او تر پایه پورې پر يوه لار ولاړ شه، هڅه مه کوه چې ټولې لارې طی کړې.

(مه ساده کېږه)

(368) څوک چې ورکړه او ښښنه کوي، پهٔ حقیقت کې خپل زړهٔ وینځي او پاک کوي يې.

(مه ساده کېږه)

(369) څوک چې په ورکړه او خیرات کې له پیسو نه جیب خالی کړي، نو د خوشالی نه زړهٔ ډک شي.

(مه ساده کېږه)

(370) هره ورځ داسې چلند وکړه، چې ستاسو د نېکو کارونو رڼا پهٔ نورو پرېوزي، خو هیڅکله پدې فکر مه کوه، چې نور هم ستا ستاسې پهٔ څېر عمل کوي او که نه.

(مه ساده کېږه)

(371) هره ورځ پنځه ځله پهٔ لوړ آواز سره تکرار کړه، خدای جل جلاله له ماسره دی او ما يواځې نه پرېږدي.

(مه ساده کېږه)

(372) څومره چې مهربانه وه اوسئ، هغومره به د خوشحالی او بهترۍ احساس کوئ.

(مه ساده کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(373) هر عمل چې د ایمان پر بنسټ تر سره کړې، د خدای جل جلاله د مهربانۍ سبب کیږي.
(مه ساده کیږه)

(374) مخکې له دې چې خوشحالي تجربه کړو، لازمه ده چې د غم او ماتم پهٔ مانا وپوهیږو.
(مه ساده کیږه)

(375) کومه چالبه نه ده، ماتې او کامیابي د هر انسان د ژوندانه برخې دي.
(مه ساده کیږه)

(376) خوښي، غمونه، خوندونه او دردونه دا ټول پهٔ خپل نوبت له مونږ سره مرسته کوي تر څو د خپل روحي تکامل پړاوونه وه وهو او له نوري ودې او رشد څخه برخمن شو.
(مه ساده کیږه)

(377) کله چې پهٔ کوم کار لاس پوري کوئ، نو دشک دروازې پهٔ بشپړ ډول وتړئ.
(مه ساده کیږه)

(378) پدې نړۍ کې تر ټولو ساده او آسانه کار دا دی، چې پخپله ته وه اوسې، او تر ټولو سخت کار دا دی، چې داسې څوک وه اوسې لکه نور چې دې غواړي.
(مه ساده کیږه)

(379) د هدف معلومول د موفقیت د دروازې کیلي ده.
(مه ساده کیږه)

(380) ستاسې ارزښت له دې څخه زیات دی، لکه څنګه چې یې تصور کوئ، صرف مشکل دا دی چې تر اوسه پوري تاسو ته دا حقیقت چا ویلی نه دی. (مه ساده کیږه)

(381) له عمل څخه پرته فکر هیڅ مانا نه لري.
(مه ساده کیږه)

(382) د زندګي هره ورځ ستا د تاریخ ورقه ده.
(روهي افغان ویب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(383) وېره د هوښيارۍ يو جز ده.

(روهي افغان ويب)

(384) غلتي انساني او معافي کول الهي صفت دی.

(روهي افغان ويب)

(385) پر مړ شوي مه ژاړه، پر بې عقل وژاړه.

(روهي افغان ويب)

(386) چې پاک دامن دپليت سره يو ځای کړې، پاک هم پليت کيږي.

(روهي افغان ويب)

(387) د تشويش او سودا پر وخت د تاکيدي عبارتونو لوستل ستاسي د روحي رنځونو په مقابل کې تر ټولو غوره درملنه ده.

(مه ساده کيږه)

(388) ټول شرايط موقتي دي او هيڅ شی په خپل پخواني شکل سره باقي نه پاتې کيږي.

(مه ساده کيږه)

(389) دا چې شرايط څه ډول تغير کوي، دا يوازې په تاسو پورې اړه لري.

(مه ساده کيږه)

(390) که چېرې په ژوند کې هغو څه ته چې هيله يې لرې، ونه رسيږې، دا په دې معنا نه ده چې خدای نخواسته خدای جل جلاله ستاسي دعاګانو ته ځواب نه وايي، بلکې دليل يې دا دی دهغه څه په اړه چې ته فکر کوې، خلاف د هغو څه دي چې ته يې آرزو کوې.

(مه ساده کيږه)

(391) مونږ نړۍ ته د دې لپاره راغلي يوو، تر څو د خدای جل جلاله مينه او رضا د ځمکې پر مخ پلې کړو.

(مه ساده کيږه)

(392) د ژوند او مسايلو په اړه ستا قضاوتونه، ستا له فکرونو پرته بل هيڅ هم نه دي.

(مه ساده کيږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(393) که غواړئ اولادونه مو له زده کړو برخمن شي، او ښه زده کوونکی جوړ شي، د معلم پوښتنه یې وکړئ، د ملګرو له ناستې پاستې یې خبر شئ، او که یې تعقیب نکړئ، له ښوونځي څخه به بې علمه پاته شي.

(394) که د ټولنې اصلاح غواړئ، خپل ځان او کورنۍ اصلاح کړئ.

(395) هر انسان امنیت ته اړتیا لري، امنیت له سولې سره تړلی ده.

(396) هوښیار ځوان د فکر ځلولو هڅې کوي، او نادان ځوان ویښتان ځلوي.

(397) مال او دولت لاسته راوړل خاص هنر نه دی، هنر هغه دی چې د خلکو زړونه لاسته راوړي.

(398) هر هغه څوک چې له خپلو شته شیانو څخه خوښ او راضي وي، هیڅکله به هم د زړه له رنځ سره مخ نه شي.

(399) څوک چې د علم حاصلولو کوشش او هڅه نکوي، هیڅکله دي هم د پوهانو په غونډو کې خبرې نه کوي.

(400) لوړ سوچونه او لوړ فکرونه ولرئ، خو له ویرو خوبنیوو خوند واخلئ.

(401) د هر چا یو ښه خوی پیدا کړئ، او بیا یې هغه ته وواياست، ځکه هر څوک داسې انګېزې ته ضرورت لري.

(402) که غواړئ یو شی زده کړئ، په هغه کې ډوب شي.

(403) که غواړئ چې دوکه نشئ، نو د دریو دوکانو څخه قیمت معلوم کړئ.

(روهي افغان ویب)

(404) بدن د ژبې په زریه کله کله تباه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(روهي افغان ويب)

**(405) څوک چې د انسان حق نه پېژني، هغه ګويا د الله حق هم نه دی پېژندلای**

(عثـــمان رض)

**(406) د ژوند لپاره يوه موخه او هدف وټاکئ، او بيايې پۀ ټول توان سره دلاسته راوړلو هڅې پيل کړئ، ښايي د برياليتوب پړاو ته به ورسيږئ.** (عثـــمان رض)

**(407) که مـــو سترګي ښا او غړېدلی وي، نو هره ورځ د محشر ورځ ده.**

(عثـــمان رض)

**(408) د هغه چا پۀ حال ډېر افسوس دی چې دنيا فاني ګڼي او بيا هم مينه ورسره کوي. دوزخ حق ګڼي خو پۀ ګناه اخته وي. مرګ رښتيا بولي اوبياهم خاندي، پۀ تقدير باور لري خوبياهم دتلونکو څېزونو انديښنه کوي.** (عثـــمان رض)

**(409) تولی نېکی له حيا او ټولی بدی له بې حياتوبه سرچينه اخلي.**

(عثمان رض)

**(410) د هغه چا پۀ وړاندې پۀ لوړه لهجه غږېدا مه شرمېږئ، چې د سترګو پۀ اشاره نه پوهيږي.** (عثمان رض)

**(411) يوه انسان هغه دی چې پۀ ډېر پام او احتياط ګامونه واخلي.**

(عثمان رض)

**(412) پۀ تنګسيا کې د غم له برکته الله پاک پۀ انسان اسانتيا راولي.**

(عثمان رض)

**(413) دمسلمانانو ذلت د مال له نشتوالي له امله نه بلکې ددينې ښوونو څخه له سرغړونې پيداکيږي.** (عثمان رض)

**(414) حيرانتيا دهغه چا په حال ده چې مرګ ويني اوخاندي، دوزخ حق ګڼي اوګناه کوي، شيطان دښمن ګڼي اوبيايي هم خبره مني.** (عثمان رض)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(415) د چاچې پر الله تعالی باور کم وي، هومره يې حرص زيات وي، او څوک چې په لوی لاس ځان اړ کوي تل به اړ پاتې وي. (علي کرم الله وجهه)

(416) مرګ تل په ياد ساتئ خو هيله يې هيڅکله هم مه کوي.

(علي کرم الله وجهه)

(417) د بد خويه ملګرو له ناستې ډډه کوئ، ځکه چې سرى تل پخپلو ملګرو پيژندل کيږي. (علي کرم الله وجهه)

(418) سخته ګناه هغه ده چې کونکی يې وړه وګڼي.

(علي کرم الله وجهه)

(419) الله پاک تاسو ته دنيا د دې لپاره درکړې، چې آخرت پرې وغواړئ.

(عثمان رض)

(420) زه خو د ځان لپاره دا ډيره بده ګڼم، چې ورځ دې راباندې تيره شي او د قران کريم تلاوت دې پکښې ونه کړم. (عثمان رض)

(421) تېته وينا، ښکته کتل، منځنی رويه کول د ايمان نښه ده.

(عثمان رض)

(422) خپل پيتی پر بل مه اچوئ، کــه لږ وي او يا ډېر.

(عثمان رض)

(423) توره بدن تيې کوي او بده وينا روح.

(عثمان رض)

(424) له الله جل جلاله نه پرته له هيچا هم طمعه او وېره مه کوئ، پوازې له خپلو ګناهونو وډار شئ. (عثمان رض)

(425) هر انسان د کتاب يو جلد دى، په دې شرط چې وپوهيږې څه ډول هغه ولولې.

(امرسون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(426) د بل په بربادي مه خوشالېږه، هسې نه چې صبا له تاسو ســره همداسې وشي.

(علي كرم الله وجهه)

(427) كه چېرته مو ګناه ته زړه وي، داسې ځاى ته ولاړ شئ چې الله نه وي.

(عثــمان رض)

(428) بده وينا دريو تنو ته زيان رسوي، وينا كونكى ته، د چا بد چې وايي، او څوک چې ورته غوږ نسي.

(عثــــــمان رض)

(428) د قهر او غضب په وخت كي ښه دوا چپ پاتي كيدل دي.

(عثــــــمان رض)

(429) كه حقيقي ژوند كول غواړئ، له طمعي كولو څخه ځان وژغورئ.

(سيد علي هجوري رح)

(430) ژوند دوخت نوم دى كه ته هغه ضايع كړي يقينا خپل ژوند به په خپل لاس برباد او تباه كړي.

(سپنسر)

(431) لوړهمت او تينګ هوډ ډېرې اوبه كوي.

(ستيلي)

(431) دمصيبت او مشكل له امله همت نه بايلل نيمه كاميابي ده.

(پلرونس)

(432) دبې همته خلكو له سيوري څخه ځان هم وژغورئ.

(ډاكټر ماډرن)

(433) همت دژوند تاداو دى او بې همتي دمرګ تاداودئ.

(ټيګور)

(434) له خپل توان څخه زيات كارمه كوئ، مګر دومره هم مه بې همته كيږئ، چې خپله سستي مو بل چاته اړ او محتاج كړي.

(حضرت على كرم الله وجهه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(435) د کبر او غرور پېنې داسمان لور ته مه پورته کوه، بلکې داخلاص سر پرځمکه کېږده.
(ارسطو)

(436) د کورله اخېستلوڅخه مخکې د ګاونډیانو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

(على کرم الله وجهه)

(437) غوره وېناوې او مثالونه دیوهانو لپاره دي، ناپوهانو ته یې هیڅ ګټه نشته.

(علي کرم الله وجهه)

(438) تر تولو لویه بلا دمصیبت پر وخت ویره ده.

(علي کرم الله وجهه)

(439) د ناپوه مازغه دهغه دژبې تر شا وي، او دهوښیار ژبه دعقل تر شا وي.

(علي کرم الله وجهه)

(440) ډېر لږ به داسي شوي وي، چې بیړني خلک تاوان ونه ویني، او ډېر کم به داسي شوي وي چې صبر کونکی کامیاب شوي نه وي.
(علي کرم الله وجهه)

(441) په هره بښیګڼه غره کېدل، د هغې اجر له منځه وړي.

(على کرم الله وجهه)

(442) هر څه زکات لري، د مازغو زکات دا دی، چې د ناپوهانو په خبرو غوږ ونه ګرول شي.

(علي کرم الله وجهه)

(443) معتقد یم چې د انسان سرنوشت یوازې محبت او مینه معلوموي.

(شکسپیر)

(444) اقتصاد جوړول، لوړ پرواز دی، لوړه غوښتنه لوړ هدف او لوړې هیلې دي چې یو څوک د ښه اقتصاد خاوند جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(445)** خندا وي داسي کوه لکه په ژوند چې دي ژړلي نه وي، او داسي لوبې کوه لکه په ژوند چې دي بايللي نه وي، داسي مينه کوه لکه په ژوند چې پکښې ځورېدلى نه وي، او داسي ژوند کوه لکه صبا چې نه لري. (ديوهانو خبري کتاب)

**(446)** ځان د هېچا سره مه پرتله کوئ، که مو داسي وکړل نو پخپله مو خپل ځان ته توهين کړى دى.

**(447)** که چېري زړهٔ د هغه شيانو سره چې تړاو ورسره نه لري، بند نه کړي ته به هيڅ کله پريشانه نه شې. (افلاطون)

**(448)** دکوم کار په کولو چې شرميږي دهغه په ژبه هم نوم مه اخله.

(سقراط)

**(449)** پر انسان ډېر مشکلات د خپلي ژبې له ناوړه چلند څخه پېښيږي.

(فيثا غورث)

**(450)** د بدن د تولوغړو څخه ژبه ډېره سرکښه ده.

(فيثا غورث)

**(451)** تر څو زړهٔ پاک نشي تول بدن په مصيبت کې اخته کوي.

(امام غزالي رح)

**(452)** که څه هم دمرګ له راتګ نه وړاندې څوک نه مړ کيږي، خو په ژوند کښې په خپل لاس ځان د ښآمار په خولهٔ کې مه ورکوئ.

(شيخ سعدي رح)

**(453)** ريښتنى عمل دا دى، چې د خپلو عملونو بدله او عوض ونه غواړې.

(ابوبکرصديق رض)

**(454)** ځيني کسان له خپل ژوند څخه لاس په سر اوپښېمانه دي، خو مرګ ته هم تيارنه دي، داهغه کسان دي چې بې هدفه ژوند تېره وي. (کليرنډن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(455) هر سړی، په خپل وجود کې د ټولې نړۍ رنځونه لري.

(آرتور شوپنهاور)

(456) د یوې ټولنې وژل اسانه دي؛ لومړی یې فرهنګ تر ځار لاندې ونیسئ، کتابونه یې ترې واخلئ او سرونه یې په ټلویزیون کې ننه باسئ. (کارل پوپر)

(457) هرهغه څوک چې ریښتنې خبرې نکوي، په حقیقت کې یو پټ شیطان ده.

(معمر القذافی)

(458) که په لمانځه کې وئ، نو د زړه ساتنه مواظفت کوه.

(قمان حکیم رح)

(459) که چیرته د خوړلو په حالت کې وئ، د ستونی سره د احتیاط کوه.

(لقمان حکیم رح)

(460) که د بل چا په کور کی وئ، نو د سترګو ساتنه کوه.

(لقمان حکیم رح)

(461) څوک چې دصبا لپاره فکر مند دي، همیشه کامیابیږي.

(462) دخپل ځان او نورو خلکو له خطاګانو څخه پند واخله.

(463) د لویانو خلکو سره د نورو درد وي، میانه خلک د خپل ځان په کیسه کی وي، او ټیټ خلک بې احساسه وي.

(464) هوشیار هغه څوک دی، چې د ژوند په امتحان کی په لوړ مقاومت هر څه ښه وساتي، او هر څه د ځان په ګټه پای ته ورسوي.

(465) هدیرې په هغو خلکو ډکې دي، چې فکر یې کاوه د نړۍ چارې به پرته له دوی په ټپه ولاړې وي. (وینسټون چرچیل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(466) یوازې له هغو کسانو سره بحث وکړئ چې تاسو پوهېږئ چې دومره عقل یکې شته چې ستاسو د خبرو پهٔ وړاندې بې مانا خبره نهٔ کوي.** (ارتور شوپنهاور)

**(467) تر ټولو بد کار د کتاب نه لوستل او د هغه پر ارزښت نه پوهېدل دي.**

(جیم)

**(468) وسلې پهٔ څمکه کېدئ او قلم راواخلئ؛ څکه چې یو نالوستی هیواد هیڅکله خپلواک کېدی نه شي.** (غازي امان الله خان)

**(469) ټول واقعي جهنم یوازې پهٔ یوه کلمه کې دی؛ "یوازیتوب"**

(ویکتور هوګو)

**(470) خپل اهل او اولاد ته ادب ورښودل غوره جهاد دی.**

(امام غزالي رحمة الله علیه)

**(471) که له تېر سره خدای پاماني نه شي کولای، راتلونکی ته هم هر کلی نه شي ویلی.**

(توني کېنګ)

**(472) ددې پر ځای چې څو کتابونه ولولئ، ښه داده چې یو ښه کتاب څو ځل ولولئ.**

(سنکا)

**(473) مطالعه ستاسې د بریالیتوب سبب ګرځي.**

(وس رابرټز)

**(474) یوازې پهٔ غوښتنه نه شو کولای، ښه ژوند ولرو، بلکې غوره ژوند کول هڅې او کوښښ ته اړتیا لري.** (جیم ران)

**(475) زمونږ اصلي موخه له نورو سره مرسته ده، که له چا سره مرسته نه شئ کولای، نو ازاروی یې هم مه.** [دالای لاما]

**(476) یوازې یو شر شتون لري، چې ناپوهي ورته وایي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سقراط)

**(477) هغوی چې واک په پيسو اخلي، عدالت هم په پيسو خرڅوي.**

(ناپليون)

**(478) لومړی درس چې مور او پلار يې بايد خپلو اولادونو ته ور وښيئ؛ هغه ربښتينولي ده.**

(شوپنهاور)

**(479) په هيڅ شي دومره نه يم پښيمانه، لکه د خپل ژوند په هغو شپو ورځو، چې د خلکو د خبرو له امله مې په خپله خوښه نه دي تېرې کړي.**

(نجيب محفوظ)

**(480) ربښتيني خندا به دې ددې جوګه کړي چې له خپل درد سره لوبې وکړې.**

(چارلي چاپلين)

**(481) بريالي کسان هغه دي چې په خپلو غوښتنو پسې ځي او که پيدا يې نه کړي؛ د خپلو هڅو پر مټ يې را منځته کوي.**

(جورج برناډ شاو)

**(482) مور هغه بانک ته ورته ده، چېرته چې موږ خپل غمونه او دردونه خوندي کوو.**

(ديوډ تالماج)

**(483) د ځان لپاره هيڅوک نه پوهيږي، خو د نورو لپاره ټول پوهيږي چې څه رنګ ژوند وکړي.**

(پايلو کوئلو)

**(484) د اوږد عمر لپاره ښځه اړينه ده، ځکه د خاوند نيم غمونه او غوسه ښځه زغمي.**

(جوستن ګاردر)

**(485) د ديوالونو جوړولو پر ځای د ديوالونو نړول پکار دي. ديوال د ښيلتون نښه وي.**

(خالد نجيم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(486) لومړی مې فکر کاوه، چې هېواد پوه وزیر غواړي، وروسته مې فکر کاوه، چې پوه پاچا غواړي، خو اوس پوه شوم، چې پوه ملت غواړي.** (امیر کبیر)

**(487) تر ټولو ستونزمن کار دا دی، چې څوک حقیقت هماغسې بیان کړي څنګه چې وي.**

(صادق هدایت)

**(488) یوازې ته پخپله پوهېږې چې څه درته ډېر غوره دي.**

(پائیلو کویلو)

**(489) هغه څه چې په انسان کې پټ دي، یوازې په تیاره کې ورته ځلېږي.**

(صادق هدایت)

**(490) د یوې ټولنې تر ټولو وېروونکی انحطاط، خرافات او د خلکو ناپوهي ده.**

(صادق هدایت)

**(491) راتلونکي هیڅکله نه پېښېږي، بلکې جوړېږي.**

(ویل دورانت)

**(492) فکر کولو ته وخت ځانګړی کړئ، خو کله چې د عمل وخت راورسېد، نور فکر مه کوئ، عمل وکړئ.** (ناپلیون)

**(493) هیڅکله د نورو د ژوند ظاهر، د خپل ژوند له باطن سره مه پرتله کوه.**

(جان مسکول)

**(494) زما لپاره تلویزیون ډېر ګټور تمام شوی، څکه هر کله چې چا روښانه کړی، زهٔ بلې کوټې ته تللی یم او کتاب مې مطالعه کړی.** (ګروچو مارکس)

**(495) هغوی چې بې دلیله باور کړی وي، په دلیل یې نه شو قانع کولای.**

(جیمز رندي)

**(496) هغوی چې هیله لري د ژوند څلور واړه فصلونه یې پسرلی وي، نه ځان پېژني، نه طبیعت او نه ژوند.** (فرانسوا ولتر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(497) انسانان د مينې لپاره دي او شيان د استعمال لپاره، نړۍ ځکه لل ګډوډۍ سره مخ ده چې؛ شيانو سره مينه کېږي او انسانان استعماليږي.** [دلای لاما]

**(498) دوه ځيزونه ستاسو د ژوند ځرنګوالی ټاکي؛ کتابونه چې لولئ، خلک چې ورسره وينئ.** (مک لوهان)

**(499) مونږ ټول يو شان استعداد نه لرو، مګر مونږ ټول يو شان فرصت لرو تر څو خپل استعداد پر مخ بوځو.** (ډاکټر عبدالکلام آزاد)

**(500) هيڅوک له خپل کار او روزګاره نه دي خوښ، خو ټول له خپلې پوهې خوښ او پهٔ خپل عقل ډاډه دي.** (ليو تولستوی)

**(501) تر ټولو ښکلي احساسات هغه دي، چې نهٔ پوهيږي څنګه يې بيان کړي،** (شرل بودلر)

**(502) يو وفادار دوست له زرو خپلوانو ښهٔ دی.** (يوريپيديس)

**(503) يوه ټولنه هغه وخت نيکمرغۍ ته رسيږي، چې د وګړو ورځنۍ عادت يې مطالعه وي.** (سقراط)

**(504) د بې ځايه او ناوړه هيلو له منځه وړل د کار او ژوند برياليتوب دی.** (ويليم شکسپير)

**(505) که د ټوپک لس مرمۍ ولرئ، نهٔ يې پهٔ داخلي خاينانو فير کړئ، يوه يې د خارجي دښمن لپاره وساتئ.** (ادولف هيټلر)

**(506) بايد ډېره مطالعه وکړو، چې وپوهيږو، پهٔ هيڅ نه پوهيږو.** (مونتيسکو)

**(507) حتمي نه ده چې پهٔ خپل نفس اعتماد دې تل برياليتوب تضمين کړي، خو پهٔ نفس نه اعتماد دې پهٔ يقين سره د هرې ناکامۍ باعث کيږي.** (آلبرت بندورا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(508) وړکتوب کې ښه روزنه، ځوانی کې پرځان ویسا، پاځهٔ سن کې رښتینولي او سخاوت، بوډاتوب کې ښه سلا ورکول. بیانو دمړینې پهٔ وخت افسوس مه کوه.

(کليرچوتس ډېرليک)

(509) د ښځې کار افراط او تفریط دی، یا لېونی مینه درسره کوي، یا لېونی کرکه.

(ویلتر)

(510) پهٔ یو دلیل باندې مې څلوېښت پوهان قانع کړل، مګر پهٔ څلوېښتو دلیلونو مې یو جاهل قانع نشو کړای.

(مولانا جلال الدین)

(511) نهٔ غواړم ژوند وکړم، لومړی غواړم مینه وکړم او د هغې پهٔ لړ کې ژوند وکړم.

(زولدا فیتزیرلډ)

(512) ځوانانو ته درې نصیحتونه لرم: کار، کار او کار.

(توماس ایډیسن)

(513) ما د ښځې خبره نهٔ، بلکې د هغې مهرباني تسخیروي.

(ویلیم شکسپیر)

(514) باور ولره، او پهٔ خپل عمل ناکامي ناشوني کړه.

(چارلس کیترینګ)

(515) یا چوپ اوسه، یا دې خبرې باید چوپتیا نه ډېر ارزښت ولري.

(فیثاغورث)

(516) پهٔ وخت ویده کېدل او پهٔ وخت راپاڅېدل تا صحتمند، شتمن او عقلمند کوي.

(بینجامین فرانکلین)

(517) جاهل انسان د دول پهٔ څېر ده؛ غږ یې ډېر، منځ یې تش دی.

(مولانا جلال الدین بلخي)

**(518) کهٔ غواړې ښځه ځان تر تا ځار کړي؛ د پخلي ستاينه يې وکړه.**

(ډيل کارنيګي)

**(519) هغه څوک چې وايي پيسې هر کار کوي، د پيسو لهٔ پاره هر کار کوي.**

(بينجامين فرانکلين)

**(520) د هر شي ساتونکي چې څومره زيات وي، هغومره خوندي وي، خو د راز چې څومره ساتونکي زيات وي، هغومره ناخوندي وي.** (اپلاتون)

**(521) هر غم او انديښنه يواځې او يواځې دمهربانه الله پهٔ ياد له منځه ځي.**

**(522) په زغم او صبر کې هيڅ تاوان نشته، اوپهٔ ژړا کې هيڅ ګټه**

(ابوبکر صديق رض)

**(523) که غواړئ چې هوسايې مو پهٔ برخه شي، خپله ژبه له ګيلو او شکايت څخه ليرې وساتئ.** (ابوبکر صديق رض)

**(524) کوم کار چې دالله درضا لپاره کوئ، پهٔ هغه کې له انسانانو مه دارېږئ.**

(لقمان حکيم رحمة الله عليه)

**(525) لمونځ يوه پيمانه ده، که چا دا پيمانه پوره کړه هغه کامياب دی او که چالَه دې څخه څه کم کړل، دعذاب خاوند دی.** (عبد الله ابن مسعود رض)

**(526) مونږ دخپل ژوند خپله ذمه وار يوو، دخپل ځان واک بايد مونږ پخپل لاس کې واخلو.**

**(527) مور شکر کوونکې، دصبر کوونکې پهٔ څېر ده.**

(نبوي ډالی)

**(528) غمونه دې له ځانه ليرې چېرته کېږده، نو ولې د ژوند خواږه وختونه وربانديې خرابوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(529)** **د مسلمان حال ځومره دتعجب وړ ده؛ که په ستخي صبر وکړي صابر به شي، او که په خوشحالي شکر وکړي شاکر به جوړ شي.**

**(530)** **شکر ايستل نيم ايمان دی.**

(عبد الله ابن مسعود رض)

**(531)** **غوصه ناک سړی تل له زهرو ډک وي.**

(کنفوشيوش)

**(532)** **ډېر ناوړه مسؤل او ذمه وار هغه دی، چي په ذمه واری او مسؤليت کي له بې ځايه زيادت او چټکتيا څخه کار اخلي.**

(مطرف بن عبد الله)

**(533)** **د بدو په جواب کي بد چلند کول، دواړه هماغه بد شول.**

**(534)** **ما د پخوانيو مشرانو تاريخ لوستي، دهغوی صبر دحيرانتيا وړ وو، مصيبتونه به دباران په څېر ورباندي اوريدل، خو دوی يې په مقابل کي داسي صبر کړي وو، چي ټولو پېښو ته يې ماتي په صبر سره ورکړي وه.** (دکتور عائض القرني)

**(535)** **زما خوښي او خوشحالي دتولني په خوښي او خوشحالي کي نغښتي.**

**(536)** **مونږ د ځان په اړه هم سم قضاوت نشو کولای، نو د نورو په اړه په قضاوت کي عاجله مه کوئ!  قضاوت واقعبينی غواړي.**

**(537)** **د نورو ګرانبيه غرور ته درناوی، خپل غرور ته درناوی کول دی.**

**(538)** **په داسي حال کي چي د خپل کور غولی دي له چتلی او واورو ډک ده؛ بايد د ګاونډي د بام له واورو شکايت ونکړې.** (کنفوسويس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(539) انتقاد یوه خطرناکه سپرغه ده، چې د غرور د باروتو په منځ کې چاودنه رامنځته کوي، داسې چاودنه چې کېداشي دهلاکت سبب هم شي.**

(د دوستۍ لار کتاب)

**(540) زهٔ دهېچا بد نه وایم، تل د وګړو ښېګڼې بیانوم.**

(فرانکلین)

**(541) یو لوی سړی خپل لویوالی د خپل سلوک په واسطه ورو خلکو ته ښایي.**

(د دوستۍ لار کتاب)

**(542) خدای پاک هم تر هغې قضاوت نه کوي، چې څو پورې دانسان عمر پای ته نه وي رسېدلی.**

(ډاکټر جانسن)

**(543) د انسان په جوړښت کې تر ټولو ستره انګیزه د مهم والي غوښتنه ده.**

(فروفیسور جان ډیوي)

**(544) ستاینه کې صمیمیت نغشتي دی، او تملق (چاپلوسي) کې نه.**

(د دوستۍ لار کتاب)

**(545) تملق(چاپلوسي) د هغو شیانو بیان دي چې مقابل لورې فکر نکوي؛ چې په ده کې دغه شته.**

(د دوستۍ لار کتاب)

**(546) هر څوک چې راسره مخامخېږي، په یوه لحاظ رانه برتري لري، زهٔ هڅه کوم له هماغه څه نه یې چې تر ما برتري لري؛ یوڅه زده کړم.**

(امر سون)

**(547) که په برې کې کوم راز وي، هغه د مقابل لوري د فکر معلوملو کشف او دهغه او خپلې لید زاوي څخه دشیانو لیدل دي.**

(هانرې فورډ)

**(548) هغه لږ شمېر خلک چې له ځان خوښۍ پرته غواړي نورو ته خدمت وکړي؛ ډېره ګټه کوي او د بدو غوښتونکي یې کم دي.**

(د دوستۍ لار کتاب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(549) ځوک چې دا وس لري چې ځان د نورو په ځای راولي او وکړای شي د نورو دمغزو دکار لار زده کړي؛ د خپل راتلونکي هيڅ غم دی نه کوي. (يانګ)

(550) تاسو کولای شئ چې افرادو سره د واقعي مينې په اساس د دو مياشتو نه په کمه موده کې دهغوی داسي مينه ځانته راجلب کړئ، چې په دو کالو کې به مو نه وي جلب کړي.

(د دوستی لار کتاب)

(551) زياتره خلک هماغومره نېکمرغي احساسوي چې تصميم يې ورته کړي وي نېکمرغه اوسي. (لينکلن)

(552) ستاسو بې لګښته مسکا تر ټولو ګران بيه هديه ده.

(د دوستی لار کتاب)

(553) په ياد لرئ په هره ژبه کې هرچاته خپل نوم تر هرڅه ډېر خوږ اومهم ده.

(د دوستی لار کتاب)

(554) هغه ځوک چې تل په خپل فکر کې وي، بې تربيې سړي ده، که څه هم ډېرې زده کړي ولري. (د دوستی لار کتاب)

(555) د دې لپاره چې د نورو د پام وړ وګرځئ، نورو ته پام واړوئ.

(ميرمن هام يې)

(556) ښه اوريدونکي اوسئ او نور وهڅوئ چې د ځان په باب وغږيږئ.

(د دوستی لار کتاب)

(557) که غواړئ خلکو ته ګران شئ، له هغو سره دهغه څه په باب وغږيږئ، چې هغوی ورسره مينه لري. (د دوستی لار کتاب)

(558) ای انسانه! اي مغرور انسانه! ته تر اسمان لاندې د لږ قدرت په پيداکولو داسي څه کوې، چې پرشتې ژړوي. (شکسپير)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(559) تل له مباحثو لیرې ګرځه، د هیڅا نه خوښیږي په مباحثه کې ناکام شي.

(د دوستۍ لار کتاب)

(560) کینه او کرکه هیڅ کله په کینه او کرکه نه وینځل کیږي، بلکې په مینه مینځل کیږي.

(د دوستۍ لار کتاب)

(561) انسان له خطاوو سره ملګرى دى، ښه سړى هغه دى چې د غلطیو سلنه یې کمه وى.

(د دوستۍ لار کتاب)

(562) څــــومره چې کولاى شې هڅه وکړه تر نورو هوښیارې کړنې وکړې، خو د خپلو هوښیارو کړنو په باب له هیچا سره خبرې او بحث مه کوه.

(لرډ چسترد فیلډ)

(563) ناپوه خلک تل دخپلو سهوو او اشتبهاګانو دفاع ته بدې وهي.

(د دوستۍ لار کتاب)

(564) د اشتباه او غلطۍ په صورت کې له بهانو پرته پرې اعتراف وکړئ.

(د دوستۍ لار کتاب)

(565) توافق ته د رسېدو اصل توافق غوښتنه ده.

(د دوستۍ لار کتاب)

(566) که د دښمن پیداکو په لټه کې یاست، په خپلو دوستانو د لوړوالي په فکر کې شئ، خو که د دوست پیداکول غواړئ، پرېږدئ دوستان مو پرتاسې لوړتیا ولري.

(لاشفوکو)

(567) د ناپوه سړى محکمول دومره آسان کار دى، چې تخصص او پوهې ته اړتیا نه لري.

(د دوستۍ لار کتاب)

(568) د دلایلو د پیداکو هڅه په انساني اړیکو کې ستاسې مهارت زیاتوي.

(د دوستۍ لار کتاب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(569) صميمانه هڅه وکړئ، ځان دنورو په ځای کې راولئ، او د هغوی له ليدلوري نه مسايلو ته وګورئ. (د دوستی لار کتاب)

(570) د نورو له فکرونو او عقيدو سره همدردی وښايئ.

(د دوستی لار کتاب)

(571) خپلو نظرونو او د نظر وړ مطلبونو ته مو په ښکلي او زړه راښکونکي ډول عينيت ورکړئ او هغه تر وسه_وسه نورو ته ديوپه زړه پورې ننداري په شکل وړاندې کړئ.

(د دوستی لار کتاب)

(572) ناخوښي خبرې په داسې وخت کې چې تر مخ يې خوړې خبرې واورېدل شي، بدې نه لګي. (د دوستی لار کتاب)

(573) د خپلو انتقادونو تر بيان د مخه، لومړی خپلې اشتبهاګاني بيان کړئ او دهغوی په باب وغږيږئ. (د دوستی لار کتاب)

(574) د مستقيم امر دصادرلو پر ځای خپلی غوښتنې د پيشنهاد او پوښتنې په شکل ووايئ. (د دوستی لار کتاب)

(575) پرېږدئ بل لوری خپل حيثيت او ابرو وساتي، دنورو احساسات زيانمول دلويو انسانانو کار نه دی. (د دوستی لار کتاب)

(576) په واده کې بری دانه دی چې مناسب شخص پيداکړو، بلکې دا دی چې خپله هم مناسب شخص وه اوسو. (لولاند فورسر دود)

(577) هڅه وکړئ خپل ځان دخپل ژوند ملګري په اصلاح کړئ.

(د دوستی لار کتاب

(578) که غواړئ چې کورنی ژوند مو نېکمرغه وي، نو له وړو نيوکو ځان وساتئ.

(د دوستی لار کتاب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(579) له تظاهر پرته په صادقانه ډول د خپل ژوند ملګرې وستايئ او قدر يې وکړئ، او دهغې پر وړاندې بې تفاوته مه پاتې کيږئ. (د دوستی لار کتاب)

(580) ولې سهار وختې چې کار ته ځئ له ميرمن سره مو توده خداى پاماني نه کوئ.

(د دوستی لار کتاب)

(581) کاشکې په کورني ژوند کې هم د ځان په نسبت دومره مؤدب واى لکه دنورو په وړاندې چې يوو. (د دوستی لار کتاب)

(582) حاضر يم خپل ټول نبوغ او کتابونه له لاسه ورکړم په دې شرط چې يوه شم يوه ښځه په کور کې زما په خاطر وار خطاء ده چې زۀ ناوخته د ماښام ډوډۍ ته ورځم که نه.

(ايوان تورنګنيف)

(583) هر هغه شی چې په ذهن کې يې لرې، هغو ته رسيدلې هم شې، يوازې قوي اراده ولره.

(584) دانسان نېکبختي او نېکمرغي د روح، ذهن او زړه په سپېڅلتيا کې نغښتې، نه د مادې خيالونو او فکرونو په ډېروالي کې.

(585) په ژوند کې دومره وخت نشته، چې دنورو په نيمګړتياو يې تېر کړو

(586) که دمهربانه الله لاربنووني درسره ملې وي، هيڅکله هم مه دارېږه.

(587) دکينې او بدبينې اور مو زړه او روح ناروغه کوي، او په رواني ناروغيوو مو اخته کوي، له دې بدبخته اور څخه ځانونه وساتئ.

(588) کوشش وکړه چې نن ورځ ښه کړې، دصبا په اميد ډېر خلک له دې نړۍ څخه تللي.

(589) بد مجلسونه او باندارونه ستاسو دژوند په سيورې منفي تاثر غورځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(590) ښه شخصیت جوړېدنه په ښو اخلاقو لرلو رامنځ ته کیږي، که یې هیله لرې نو مه ناوخته کوه.

(591) تر خپله وسه کوشش کوه چې له نورو سره ښېګڼه وکړې، دا دنېکمرغه ژوند دلاسته راوړلو ښه وسیله ده.

(592) څوک چې درسره کینه کوي، همدا سزا یې بس ده چې دکینې په وېروس اخته دی.

(593) شتمني یواځې پیسې نه دی؛ بلکې شتمنې ښه صحت، ښه خوب، ښه اخلاق، ښه کورنۍ او پاک زړه ته هم ویل کیږي.

(594) دنورو تر نېمګړتیاو دځان نېمګړتیاو ته اولیت ورکړه او هغه وپېژنه.

(595) له حرام خوړلو، ښېلو او اغوستلو څخه ځان او کور وساتۍ، ځکه چې د تعلیم له خوږ نعمت څخه مو بې برخې کوي.

(596) وخندېږۍ پرېږدۍ چې نور خلک ستاسو له خندا خوند واخلي، مسکا هم صدقه ده.

(597) هره هغه خوږه کلیمه له نورو سره پهٔ خبرو اترو کې وکاروئ، چې مینه زیږوي او نفرتونه ورکوي.

(598) قران کریم لوستل او کتل دنارامیوو له منځه وړلو ښه نسخه ده.

(599) خپل اولادونه مو د دین او اسلام پهٔ تربیه وروزئ، د ماشومانو لوړه تربیه پهٔ دین او اسلامیت پوهول دي.

(600) له هغو خلکو سره ناسته ولاړه کوئ، چې د الله جل جلاله اطاعت کوونکي وی او تولنیز ژوند یې دالله پهٔ اطاعت جوړ کړي وي.

(601) د مور اوپلار مینه، د خپلوۍ پالل، د مېړه او ښځې ګډ ژوند ارزښتونه پهٔ پام کې نیول، نبوي طریقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(602) له یاده یې مه باسئ؛ زمونږ مهربانه الله ښنونکی او توبه قبلونکی ده.

(603) په بېوزلو شفقت او مهرباني کول، د نېکمرغه ژوند یو ښه وسیله کېدلی شي.

(604) هر وخت مثبت فکره اوسه، الله درسره مل دی، ملائکه ستا لپاره د ښېنې دعاګانې غواړي.

(605) د الله پاک په درکړل شوي نعمتونو شکر وکاږه، همدا نن ستا ژوند یوه معجزه ده، شاکر اوسه! غمونه به دې کم او اندېښني به دې له منځه ولاړې شي.

(606) په ژوند کې داسې ځوک نشته چې یو وخت دی له ستونزو او مشکلاتو سره مخ شوي نه وي، فکر مه کوه، ستونزې زده کړې درکوي.

(607) د ونې په څېر لوړ همته اوسه، ځکه ونه چې څوک په تیږه ولي، هغه میوه ورکوي.

(608) په هیڅ کوم کتاب کې دا نه دي لیکل شوي، چې په غمجنېدو دی له لاس تللي شی بېرته تر لاسه شي.

(609) په خپل ذهن کې ښه ژوند جوړ کړه، ښه ژوند ته به ورسیږې.

(610) اودس، غسل، خوشبواو مسواک دهرې تنګسي دوا ده.

(دکتورعایض القرني)

(611) د هر انسان ژوند تېرېږي، هغه که په ښکلیو او دنګو مانیو کې اوسي او که په ګوډلو کې؛ خو دپام وړ خبره داده چې په دوی کې به نېکمرغه څوک وي.

(دکتور عایض القرني)

(612) لتې اوسستې له ناکامی سره نه شلېدونکي اړیکې لري

(دکتور عایض القرني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(613)** **که د اندېښنو، ستونزو او مصيبتونو په ګرداب کې ښکېل شي، نو په لوړ غږ دا کلمه ووايه، چې (لا إله الا الله)** (دکتور عايض القرني)

**(614)** **ناروغي يو داسې لوست دی، چې زېری پکښې نغښتل شوی او روغتيا لوړبيه ګڼانه ده.** (دکتور عايض القرني)

**(615)** **په يوه ساniه کې د تسبيحاتو زړی وکړه، په يوه دقيقه کې غور اوفکر وکړه او په يوه ساعت کې خپل کار بشپړ کړه.** (دکتور عايض القرني)

**(616)** **د يتيم اوښکې پاکې کړه، چې دالله جل جلاله خوښې او په جنت کې ځاي ترلاسه کړې.** (دکتور عايض القرني)

**(617)** **د يوې روپۍ په بدل کې د فقر دعا او مسکن مينه وپېره.**

(دکتور عايض القرني)

**(618)** **لږ مال چې نېکمرغي پرې تر لاسه کېږي، له هغه ډېر مال نه بهتره ده چې بدمرغي ورسره مله وي.** (دکتور عايض القرني)

**(619)** **پر هغه څه قناعت وکړئ، چې په لاس کې مو دي، پر تقدير ايمان او له راتلونکي ښې هيلې ولرئ.** (دکتور عايض القرني)

**(620)** **پام چې په هيڅ صورت همت له لاسه ونه بايلئ او له خپلو مغزونه د ستونزو، اندېښنو او ناروغيو اټکلونه لرې کړئ، ځکه الله جل جلاله وايي: په الله توکل کوئ که تاسو مؤمنان يئ.** (دکتور عايض القرني)

**(621)** **ګناه پرېښودل جهاد دی، او په ګناه پاته کېدل دجهاد ضد دی.**

(دکتور عايض القرني)

**(622)** **له ايمان سره ګوډله تر هغې ماڼۍ غوره ده چې کبر ورسره مل وي.**
(دکتور عايض القرني)

**(623)** **داسې خلک کله راحت مونډلې شي، چې مسلمان زوروي او يا پرې تېری کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دکتور عایض القرني)

(624) په روغ زړه کې شرک، بې ایماني او حسد نه وي.

(دکتور عایض القرني)

(625) عقلمند دې ته وايي، چې دښمنه ښېرازه کړي.

(دکتور عایض القرني)

(626) مرسته تل له اندېښنو سره راځي.

(دکتور عایض القرني)

(627) بې ځایه او بې ګټې خبرې او بحث د مخ نور کموي.

(دکتور عایض القرني)

(628) تاسي خپله ننني ورځ د سهار په لمانځه پیل کړئ، او تر دې وروسته ځان الله ته وسپارئ، نو هله به الله تعالی تاسي له هر ډول اندېښنو خوندي کړي او دنېکیو لار به درته وشايي. (دکتور عایض القرني)

(629) مایوسي او ناهیلي یو بده بلاء ده، خداي پاک دې هر څوک ورته وساتي، یوازې لوړ همت اوزیار له همدې بلاء څخه دخلاصون لار ده.

(630) د تېروتنو د اصلاح لارې چارې که اوږدې هم دي؛ خو بیاهم په زړه پورې دي.

(دکتور عایض القرني)

(631) دالله جل جلاله له رحمت نه مه ناهیلي کیږئ.

(دکتور عایض القرني)

(632) که ناهیلي پسې واخستې نه به دې څه له وسه کیږي او نه به نېکمرغه شې.

(دکتور عایض القرني)

(633) د ژوند پایې په ستومانتیا او اندېښنو مه دکوه، ځکه دا ستا او د نېکمرغې تر منځ خنډ کیږي. (دکتور عایض القرني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(634) خپل راز هغه چاته مه وايه چې سمه لار نه ورښيه يې.

(دکتور عايض القرني)

(635) تر ټولو ښه سخا دهغه چاده، چې هيڅ نه لري، خو د نرمو الفاظو او د مسکا په ارزښت پوهيږي، او ډېر داسي خلک به هم تاسي لېدلي وي چې، هره خبره يې ستغه او ته به وايي چې په مخ څپېړه راکوي. (دکتور عايض القرني)

(636) پر دې خبره هېڅکله هم مه خوښيږه، چې ستا دژوند کوم ګوټ دې تياره وي، ځکه چې رڼا شته؛ خو يوازي د رڼا تنې پلټل پکار دي، چې په کېکاږلو يې تياري په رڼاګانو واوړي. (دکتور عايض القرني)

(637) د نېکمرغي يو لامل د دين زده کړه ده، ځکه چې د دين په زده کړه سينه پراخيږي او دالله جل جلاله خوښي پري تر لاسه کيږي. (دکتور عايض القرني)

(638) له لويې نه لويه ستونزه هم ديوه هود من انسان په وړاندي هيڅ هم نه ده.

(دکتور عايض القرني)

(639) دهغوی په اړه فکر وکړئ، چې سترګې يې له او بنکو ډکې او زړونه يې زخمي دي.

(دکتور عايض القرني)

(640) په تېرو ګناهونو اوبه واړوئ، دا فکر وکړئ چې، دهغو بدله په نېکيو ځنګه پوره کړئ. (دکتور عايض القرني)

(641) نېکمرغي په تاسو کې پټه پرته ده؛ نو پکار ده چې د رابرسېره کولو لپاره يې هلې ځلې وکړئ. (دکتور عايض القرني)

(642) موږ مال او شتمني ته دژوند تېرولو لپاره اړتيا لرو؛ خو د دې مانا دا نه ده چې، موږ د مال راټولو لو لپاره ژوندي يو. (دکتور عايض القرني)

(643) فکر او سوچ دي تل دبرياليتوب او کاميابي په لور ګرځوه، پرېږده يې هغه ناوړه خلک چې نن هم ډېرون په طمعه شپې صبا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(644) زړۀ نازړۀ توب دپرمختګ په لار کې يو غنډ ده، دغه مرض چېرته خښ کړه، او هر کار د بسم الله په ويلو پيل کړه.

(645) زۀ چې لا ډېر کم وم غوښتل مې يو کتاب وليکم، که څه هم په نه امکاناتو، نن دا دې کتاب ليکم، ولې غوښتل مې، که تاسو هم هر شي وغواړئ، کولای شئ جذب يې کړئ، خو پاک نيت او قصد يې مهم عناصر دي.

(646) په لومړی کتار کې هر څوک درېدلای شي، خو په دې شرط چې هر کار کې کمال تر لاسه کړي.

(647) خوښي دې په برخه کيږي، څکه چې څمکه ګرځي، نو پر تا به هم د خوښي وار راشي. (دکتور عايض القرنی)

(648) ځان په ستونزمنو حالاتو کې هم له ثابت قدمي سره اشنا کړئ؛ نو تولي ستونزې به مو خپله هوارې شي. (دکتور عايض القرنی)

(649) ستا ژوند ستا دفکر په بنسټ ولاړ دی.

(دکتور عايض القرنی)

(650) مخکې له مخکې ځانونه غمونو او اندېښنو ژغملو ته برابر کړئ، مثبتي پايلې به تر لاسه کړئ.

(651) دښځو لپاره همدا وياړ بسنه کوي، چې د نړی عالمان، پوهان، اديبان، او له دې تولو پرته يې نازولي پيغمبران زيږولي دي.

(652) د مهربان خدای جل جلاله پيرزوينه زمونږ له تصوراتو نه هم لوړه ده.

(653) نېکمرغي ته درسېدل، نېک خصلته ژوند او له خلګو سره ښه رويه کول دي، ليرې نه ده چې ته به هم نېکمرغه شي، خالص نيک وه اوسه.

(654) کوم څه چې نشي ترسره کولای، په همدې ځاي يې پرېږده، پر ځای يې هغه وکړه چې پري لاسبری يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(655) ځانونه نېکبخته کړئ، او په شته قناعت وکړئ، په ناشونو خوبونو پسې مه ځغلئ.**

(دکتور عايض القرني)

**(656) که له تاسو نه کومه ګناه وشي؛ نو له هغې ګناه نه عبرت واخلئ او تر عبرت اخستلو وروسته له هغې ګناه نه توبه وکاږئ او هېره يې کړئ.**

(دکتور عايض القرنی)

**(657) زمونږ هغه تول وطنوال دحيرانتيا وړ دي، چې په پرديو هېوادونو کې دمسافرۍ شپې او ورځې صبا کوي، کله چې غوښتنه لويه شي، موفقتيا له منځه ځي.**

**(658) هيڅکله به تاســـو دمصيبت پرمهال خپګان محسوس نکړئ؛ چې کله په خپل ذهن کې تر دې بد حال وګورئ.**

**(659) د مصيبت پرمهال بې صبري او بده ورځ جوړول، داسلام له نظره ناشکري او په تقدير نه راضي کيدل دي.**

**(660) ستاسو داد او سکن هلته له منځه ځي، چې د ناهيلې په کشتۍ کې سپاره شي، او د الله ياد مو له منځه لاړ شي.**

**(661) ستاسو فکر داسي خزانه ده، چې هرڅه پکښې پيداکيږي، يوازې لوی فکر جوړ کړئ.**

**(662) کومه ښځه چې د خپل مېړه پروا نکوي، نو هغه دخپل مور او پلار نه هم بې پروا وي.**

(امامه بنت حارث رض)

**(663) ډېرې ګيلې په ځای د دې چې ستړې مو کړي، نور هيڅ کومه فايده نشي درکولی.**

**(664) په دنيا کې کله کله داسې حالات هم پيښيږي، چې تېښته کول ورڅخه ناشوني وي، نو په دغه وخت کې صبر دزړه لويه دوا ده.**

**(665) په خپل ژوند تل خوښ اوسه، اوپه نيکو خويونو يې لا نور هم ښايسته کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(666) په ګناه پښېمانتيا او دتوبې په ايستلو، خيرن زړه داسي پاکيږي، لکه هيڅ چې ګناه کړي نه وي.

(667) که خپل فکر او ذهن په ښه لاره واچوې، نېکبخته به شې، ستا نړۍ ستا فکرونه جوړوي.

(668) ژوند دخپل دستور په مطابق زمونږ په خوښه نه درومي، تولې چارې الله تعالی ته وسپاره اوپه داډمن زړه وېده شه.

(669) داسي فکر مکوه، چې ګني لويان خلک دې له ستونزو سره مخ شوي نه وي، هغوی لويوالي له لويو ستونزو زده کړي.

(670) د هر درد دوا په لمانځه کې ده، خو لمونځ هغه چاته سخت دی، چې د الله له امر څخه سر غړونکی وي.

(671) که تاسو ډاډمن ژوند جوړ کړي وو، نو له ياده مه باسئ؛ چې د هرې کاميابۍ کونجي ډاډ دی.

(672) عصبي کېدل يا غوصه کېدل د ايمان او عقل دواړو ضد دی، همدی بد دود ته خاتمه ورکړه.

(673) زړه مي سخت خپه دی، ځکه چې بې کوره ناست يم او ليکل کوم، يواځي د کورنۍ ياد دی، چې ددې کتاب ليکلو ته يې مجبوره کړم.

(674) د غچ اخيستني اور داسي اور ده چې اکثر خپله ته پکښي سوځې.

(675) نن مو پر ذهنونو او فکرونو ډېر کار وکړئ، چې صبا دهر ډول ستونزو په وړاندې لکه غر داسي ودرېږئ.

(676) کاميابي او بريا دهلو ځلو او کوششونو لاندې پټه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(677) كه هر څومره افسوس او فرياد وکړې، څه چې کېدونکي ول، هغه وشول دفرياد پهٔ ځاى صبر غوره کړئ.

(677) دغه نړى د تل اوسېدو کور نه ده، پام چې پربې ارزښته هيلو ځان خطاء نکړې.

(678) تېر وخت هېڅوک نشي بدلولاى، غمونه دى پهٔ عصبى او نارامى ناروغيو اخته کوي، تېر چې څه وشول پرته له دې چې شکر ورباندې وکاږې بله هېڅ لار نلري.

(679) کله کله داسي هم شوي چي، ګران وخت له ځان سره آساني هم راکولی شي.

(680) دا ژوند دي چې هره لحظه يې پهٔ خوشحالي ولمانځو.

(681) كار د سستي او لټي دښمن دى، ځان مه بې کاره کوه.

(682) زمونږ غوښتني اوفکرونه دصبا ژوند رابڼه يې.

(683) هر څوک کولاى شي، هرڅوک شي، يوازې ټېنګې ارادې او کلک مقاومت ته ضرورت لري.

(684) هغه څوک نېکمرغه ده، چې د آخرت پهٔ ورځ ايمان لري او دهمدې ورځې لپاره خواري کوي، د دې برعکس هغه څوک غرق او تباه دى، چې ايمان يې کمزوري او د آخرت ورځ يې هېره وي.

(685) د خلکو عزت پهٔ ژوند کيږي، نه له مرګ وروسته، له مرګ وروسته دخلکو قبر ته يوازې دعا کول کيږي.

(686) راشه درشه پهٔ خپل منځ کي روغ زړونه کولاى شي، ناروغ زړونه تل د حسد پهٔ تغر ناست وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(687) د ژوند په سفر کې د غمونو او اندېښنو لور ته مه ګورئ، بلکې دژوند له خوښیو او ښکلاګانو خوند واخلئ.

(688) نېکمرغي شته که څوک یې غواړي، نېکمرغي په زړورتوب، رښتنولي، له خلکو ســـــره په مینه کې زیاته لېدل شوي ده.

(689) هغه څه چې مونږ بې وخته سپینږیري کوي، هغه دغمونو یادول دي.

(690) که تاسو له نورو خلکو سره ښه چارچلن کوي، هغوی اړ دي چې له تاسو سره هم ښه چار چلن وکړي.

(961) زړهٔ نازړهٔ توب یوه بدمرغه ناروغي ده، دغه ناروغی د زیار او کوشش په دوا ورکه کړئ.

(692) هغه کار کوه چې ستا خوښ وي، که دهغه کار زمینه درته سازه نه وه، نو بیا هغه کار کوه چې په وزګارتیا کې یې کوي. (امریکایي اروا پوه دیکس)

(693) خپله روغتیا په پام کې نیسه، ځکه روغتیا د نېکمرغه ژوند روح دی او روغتیا په لږ خوراک، څښاک او له ضررې شیانو نه په ځان ساتنه کې نغښتې ده.

(امریکایي اروا پوه دیکس)

(694) هر انسان باید په ژوند کې هدف ولري، ځکه هدف انسان ته جذبه او خوشحالي وربښي. (دیکس)

(695) انسان باید له خپل ژوند سره ځان هماغسي اعیار کړي او په خپل ژوند قناعت وکړي. (دیکس)

(696) انسان باید په خپل اوسني ژوند کې فکر وکړي، په تېر پېښېمانه او له راتلونکی اندېښمن نه شي. (دیکس)

(697) انسان باید په خپل کار کې فکر وکړي، او نور خلګ په خپل فکر ملامت نه کړي.

(دیکس)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(698) انسان باید په دنیوي چارو کې تر ځان ښکته خلکو ته وګوري.**

(دیکس)

**(699) انسان باید ځان د مسکا، خوشحالۍ او نیک پالو له ملګرتیا سره ځان اشناه کړي.**

(دیکس)

**(700) انسان هله د نېکمرغي خوږ بوی محسوسولای شي، چې دنورو په ګټه کار کوي.**

(دیکس)

**(701) د خوښۍ شیبې غنیمت او دنېکمرغۍ اړې وبولئ.**

(دیکس)

**(702) له نن څخه ګټه پورته کړه، او هغه شي وغواړه، چې د صبا درد تر راتلو مخکې ختم کړي.**

**(703) د معدې زخم زیاتره ستا له خپلو اندېښنو جوړېږي.**

**(704) په ژوند کېستره کامیابي داده، چې هره ژبه ستا نوم په ښو یادوي.**

**(705) کامیابي هر چاته راځي، یوازې خلک په دې ازمویل کیږي، چې څومره کامیابي جذبولې شي.**

**(706) د هر مشکل سر سخته مقابله په صبر وکړه، په لوی لاس ځان د غمونو ډیران ته مه غورځوه، هغه کوه چې ستاسو ارزښت ته زیان پیښ نکړي.**

**(707) د سینې د پراخېدو ښه لار دصدقې ورکول دي.**

**(708) کومه ستونزه چې نه ختمیږي، دوه ځله ورته خانده، په خپګان هیڅ هم نه کیږي.**

**(709) هیڅ داسې کار نشته چې هواری دې ونه لري، خو په دې شرط چې یوځوک د کار کولو وړتیا ولري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(710) محنت او خواري د ژوند يو صفت وګڼه، رذالت او بدبختي به دې له ژونده خپله ګډه بار کړي.

(711) پام مو وي چې دشهوتونو بيړۍ د ډېرو خلکو زړونه په نا علاجه مرض اخته کړي.

(712) انسان د دې لپاره پاک خداي نه دي پيدا کړي چې وخوري وڅښي او ويده شي، بلکې انسان د دې لپاره پيدا شوي چې د بل انسان خدمت کې وي، ترحم، شفقت، له نورو سره په چال چلند کې پيداکيږي.

(713) تل په ذهن کې کاميابي ونيسه، کاميابي راځي، خو يوازې ستاسو نيت اوقصد ته اړتيا لري.

(714) د کمزورتيا تصور هيڅکله هم مه جوړوه، دځوان يا ځواني په ذهن کې کمزورتيا د ناځواني نښه ده.

(715) هغه څوک چې په زړه کې يې دايمان خوږوالی نه وي، هيڅکله هم په امن کې نشي پاته کيدلای.

(716) نورو ته دځان نيکمرغه ښودلو، آسان لار مسکا ده.

(717) يو ملګرى دبل ملګري له اخلاقو اغيز اخلي، نو د ملګرتيا په جوړولو کې له دقته کار واخلئ.

(718) ښه ژوند په علم، اخلاقو کې پيداکيږي.

(719) څوک چې له لوړو څخه ډارېږي، هغوی تل په ټيټو کې بند پاتې وي.

(720) ښځه له کور څخه جنت جوړولی شي، لکه دوزخ هم ورڅخه جوړولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(721) تر ټولو لوی نعمت چې ساتنه يې پکار ده، هغه نفس چې له خيره ډک او د يوچا حال پرې بختور شي.

(722) ژوند لند دی په غمو يې مه لندوه، د ستړياو په بدل کې نعمتونه وشمېره.

(723) په دنيا کې تر ادب ښه ښايست نشته.

(724) څوک چې پاک او ښايسته زړۀ لري، هغه ته په دنيا کې هرڅه ښايسته ښکاري.

(725) کله دې دمحمد مصطفی صل الله عليه وسلم دغه وينا چې وايي ((په ورځ دقيامت به هر څوک له هغه چا سره وي چې په دنيا کې ورسره مينه وه)) په ياد راوستې ده.

(726) په خپلو کورونو کې آرامي جوړه کړئ، ځکه آرامي دجنت له نښانو څخه شمېرل کېږي.

(727) داسې څوک مو هم ليدلي، چې له لوږې دي له دی نړی څخه تللی وي.

(728) غمجن زړونه ديوهانو په ښايسته خبرو يخ کړئ، دهغوی په مخ کې نور وي غمجنې مه کوئ.

(729) هيڅکله هم څوک په يو حال نشي پاته کيدلای، کله غم کله خوشحالي دا دواړه په هر چا راتلونکي شيان دي.

(730) په ښه حال کې الله تعالی په ياد لره، مهربان ذات به دې په سخته کې ياد کړي.

(731) که غواړئ د اخلاقو زيرمي راوپنځوئ، دنورو له بدو کړنو ځان ناخبره واچوئ.

(732) بدې خبرې او ښکنځلې د ځوان يا ځواني شخصيت ته زيان رسونکي دي.

(733) ښځه که دشکلا چينه ده، خو په ژبه د زهرو چينه هم له ځانه جوړولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(734) چې پاتې کېدل هېڅ پښېمانتیا نه لري، خو خبري کله کله یو څوک دپښېمانتیا حد ته رسوي.

(735) څوک چې نېکي درسره وکړي، هیڅکله یې له یاده مه باسئ.

(736) څه پایده چې دنورو په فیصلو خپل قیمتي وخت خراب کړو، دنورو پایلې ورکول په مونږ لازم نه دي.

(737) چټکي یا عجله هېڅکله مه کوئ، عجله کې دفکر تارونه نه وي ګنډل شوي.

(738) که غواړئ خوشحالي مو په برخه شي، نو لومړی یې له خپل کوره پیل کړئ، ځکه څوک چې پخپل کور کې خوشحال نه وي، هغه هیڅ ځاي کې هم خوشحالي نشي محسوسولای.

(739) خپل ځان په بې ځایه کړنو کې مه بوختوئ، فرصتونه اکثر په داسي وخت کې راځي، چې تاسو یې فکر هم نه وی کړي.

(740) فقر او بدبختي د پښتنو دټول عمر ملګري دي.

(ډاکټر ابراهیم شینواری)

(741) پوهنه رڼا ده، پوهنه تودوخه ده، پوهنه شتمني ده، نجوني او هلکان باید دپوهني له نعمت څخه بې برخي نکړئ.

(742) پوهنه د انسان له داخلي جوړښت سره مستقیم اړیکي لري، او دانسان تر ظاهر په باطن کي ځلیږي.

(743) که په انسان کې انساني خویونه موجود نه وي، هغه د انسان په نامه تش کالبود دي.

(744) د انسان له صورته سیرت مهم دی، چې ظاهر یې صورت او باطن یې سیرت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(745) ځیني خلک پوهه په پوهنتون یا مدرسه، مکاتبو کې ګوري، خو ما اکثر فارغان حرام خواره چلباز او دوکه باز ولیدل.

(746) په پوهنه کې ستونزه نشته، بلکې ستونزه په انسانانو کې ده، چې پخپله پوهه عمل نکوي.

(748) نړۍ د حقایقو دترلاسه کولو لپاره ځیرني کوي، دغه حقایق په سمه او سالمه پوهه ترلاسه کولای شو، خو له یاده مه باسئ! حقیقي پوهه قراني او اسلامي پوهه ده.

(749) په قراني پوهه، او قراني کړنو، دناپوهي تورتم ته خاتمه ورکړئ.

(750) په دې خو تول پوهیږو چې پوهنه رڼا ده، خو د افسوس خبره داده؛ چې دې رڼا ته ولې کار نکوو.

(751) دتولو بدیو او بدبختیو سبب له الله تعالی څخه په لیرې والې کې دی.

(752) د کورنۍ او تولنې جوړښت له یوبل سره تړلې اوتینګې اړیکې لري.

(شراف الدین عظیمي)

(753) په روزنه پیل کتور او ارزښتمن دی، او دا کار په کورنۍ پورې اړوندیږي.

(شراف الدین عظیمي)

(754) دېرې ستونزې په ناسالمو کورنیو کې مونډل کیږي.

(شراف الدین عظیمي)

(755) کورنۍ د اقتصادي، علمي او فرهنګي لاسته راوړلو ځاي ده.

(شراف الدین عظیمي)

(756) د یوې غوره کورنۍ په شتون سره کولای شو، غوره تولنه ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شراف الدين عظيمي)

**(757) په کورنۍ کې مو دسالمي روزنې په شتون سره هيواد ته پرمختګ ور کولای شو.**

(شراف الدين عظيمي)

**(758) زمونږ انګېزه له مونږ سره دژوند په پرمختګ کې هڅه کوي.**

(شراف الدين عظيمي)

**(759) انګېزه زمونږ د خلاقيت څواک او نوې لاسته راوړنې ژوندۍ ساتي.**

(شراف الدين عظيمي)

**(760) د خپلې کورنۍ د ښه دژوند لپاره يو منظم پلان نه لرو.**

(شراف الدين عظيمي)

**(761) د کورنۍ ستونزې په مشخص او څرګند ډول نه پيژنو، نو ستونزې به څنګه خلاصې شي.**

(شراف الدين عظيمي)

**(762) د کورنيو ستونزو يو لامل دا هم ده، څکه په ګډ ژوند کې ملامتيا او نيوکه نه منو.**

(شراف الدين عظيمي)

**(763) له يو او بل څخه غوښتنې له کچې زياتې دي، دکورنۍ ستونزې به هم ورسره زياتې وي.**

(شراف الدين عظيمي)

**(764) په کورنۍ او ګډ ژوند کې هر څوک مسؤليت منونکي جوړ شئ.**

(شراف الدين عظيمي)

**(765) غرور درلودل او دبل حق په نظر کې نه نيول، د ډيرو کورنيو ستونزې راپنځولې دي.**

(شراف الدين عظيمي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(766) د ژوند ستونزو حل کولو ته مو وخت کم ورکړي، ستونزې لومړي باید تحلیل شي او بیا يې دحل لپاره وخت تعین شي. (شراف الدين عظیمي)

(767) د مسایلو د حل وړتیا باید ځان کې پیدا کړو، او لازمي هڅې يې وکړو.

(شراف الدين عظیمي)

(768) بدلون منونکي نه يو او له نويو لارو څخه ګټه نه اخلو،

(شراف الدين عظیمي)

(769) د کورنيو ستونزو په لړ کې دا هم ده؛ چې دژوند کوچنۍ ستونزې راته لويې ښکاري. (شراف الدين عظيمی)

(770) د کورني نظام خرابيدل دفکرونو په منځ کې د توپيرونو خلا ده، باید چې په همغږې دا خلا ډکه کړو. (شراف الدين عظیمي)

(771) بې علمي، بيوزلي، بې کاري، يو دبل حقوق نه پيژندل، مينه، مهرباني او خپل کاري دا هغه ستونزې دي چې دکورنيو په خرابتيا کې رول لوبوي.

(772) يودبل په وړاندې تورونه لګول او نه صداقت دکورنيو اندول له منځه وړي.

(شراف الدين عظیمي)

(773) کورنۍ ژوند مو ځکه له تاوتريخوالو ډک ده، ځکه فکر کوو ماتې مو خوړلې له خپل ځان سره مينه نه لرو. (شراف الدين عظیمي)

(774) د کورنيو تاوتريخوالې مو ځکه ډېر دی، ځکه ديو او بل اړتياو ته مو پام نه دی کړي، او نه مو مطرح کړي دي. (شراف الدين عظیمي)

(775) په خپل کار او کسب دومره هم مه بوخت کيږئ، چې کورنۍ مينې ته مو زيان ورسوي.

(776) نورو ته اجازه مه ورکوي چې ستاسو په خپل ژوند کې لاسوهنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شراف الدين عظيمي)

(777) د کورنۍ مالي ستونزو مخنيوي نه کوو، ځکه د خپلو لګښتونو او عوايدو دقيق حساب نه کوو. (شراف الدين عظيمي)

(778) د کورنۍ مالي ستونزو مخنيوي نه کوو، ځکه ډېر وګړي پرته له کومي بيړنۍ اړتيا څخه له نورو وکړو پور اخلو. (شراف الدين عظيمي)

(779) د کورنۍ مالي ستونزو مخنيوي نه کوو، ځکه هغه څه نه پلورو کوم چي له مونږ سره په ژوند کي مرسته نه کوي. (شراف الدين عظيمي)

(780) هغه وخت چي دنور دمسايلو لپاره لګوو، که هغه دکور په مسايلو ولګوو هيڅ مسايل به ونه لرو.

(781) د کورنۍ تر ټولو وړه ستونزه مو هم زر پای ته ورسوئ.

(782) تر ټولو بد خلګ هغه دي، چي خپله هم نه پوهيږي او له نورو چي هم مرسته نه غواړي.

(783) د کورنۍ لومړيتوبونه په ليست کي وليکه او هر وخت يې وڅيره.

(شراف الدين عظيمي)

(784) ولي د کورنۍ ستونزو دمخنيوي نه شو کولای، ځکه د کورنۍ مشوره مو نه ليدلي او نه مو ارزښت ورکړي. (شراف الدين عظيمي)

(785) دکورنۍ مشر چي ناسالم او انديشمن وي، ټوله کورنۍ ناسالمه کوي.

(786) ولي مو کورنۍ سالمه نه ده، ځکه تر ډېره د اولادونو د روزلو لپاره مو له وهلو او ټکولو څخه کار اخيستل کيږي. (شراف الدين عظيمي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(787) ولې مو کورنۍ سالمه نه ده، ځکه چې په هيواد کې مو تر ډېره ډېښځو دنالوستي کچه زياته ده.
(شراف الدين عظيمي)

(788) ولې بايد مور او پلار له يوبل سره مينه ولري، ځکه پرته له دې ښځه يې اولادونه خپل سري کيږي.
(شراف الدين عظيمي)

(789) په حقيقت مې خپه کړه، خو په دراواغو مې هېڅ وخت مه خوشحالوه.

(رومن رولان)

(790) رشتيني اتل هغه دی چې پخپله غوصه او کرکه غالب وي.

(دلايي لاما)

(791) راتلونکي ته فکر کول د موفقو خلکو کار دی، تاسو هم د غه موفقتيا تر لاسه کولای شئ، يوازې لږ فکر وکړئ.

(792) بده ژبه او سپک الفاظ کارول پخپله ويونکي ته زيات تاوان رسوي.

(793) تاسو کله فکر کړی؛ چې کنځاوې بد الفاظ کارول څومره بد نقش پر زړونو پرې باسي.

(794) که غواړئ ژور علم اوپوهه ولرئ، معقولې او زورې پوښتنې ولټوئ.

(795) ستاسو عزت اوقدر لوړول، دپاک خداي جل جلاله او محمد صل الله عليه وسلم په اطاعت او بندګۍ کې نغښتي دی.

(796) د ايمان پوخوالي دالله جل جلاله په نښانو کې فکر او تدبر کول دي.

(797) د هر ډول بریالیتوب او پرمختګ لپاره، پرهيزګاري او تقوا ده، چې تاسو ورته ځان رسولی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(798)** نورو ته ستونزې جوړول، دبې لارې دليل دی، کوشش وکړئ چې خپله ژبه وساتئ، ځکه ژبه نورو ته پهٔ ستونزو کې رغنده رول لري.

**(799)** ډېر پوهان او عالمان د مور پهٔ دعا ګانو ستر شوي دي، او ټول عالمان پهٔ دې متحد دي چې د سترتوب لپاره د مور دعا ترټولو موثري دي.

**(800)** نېکمرغي يوازې مسلمان ترلاسه کولای شي، ځکه له دوی سره ايماني نور وي.

(دکتور عايض القرنی)

**(801)** که پهٔ دې خبره باور لرې "چې هرڅه مخکې له مخکې پهٔ تقدير کې ليکل شوي " نو بيا وير ژړا او خپګان څه له کوې.

**(802)** اسلام د مينی، محبت، دين دی، پهٔ اسلام ځان خبر کړئ، چې تولنه مو له نېکيو ډکه شي.

**(803)** له غفلت نه ځان وساتئ، ځکه غفلت د الله له ذکره او د دنيا له ټولو خوښيو سرې ډېر ليرې کوي.

**(804)** دا تريو تندي خلک که پهٔ ځان پوهېدلای، چې زمونږ له تندو څومره خلک لېرې ځي، ځانو ته به يې اور نيولي وو.

**(805)** له ځان ښځه ولې د ژوند يو غوره ملګری نه شو جوړولې؛ ځکه منندوی، صبر کوونکی، منصف او خاکسار نه يوو. (شراف الدين عظيمي)

**(806)** ولې مو له کډ ژوند ښځه خوند نه اخلو؛ ځکه دهغې لارې پهٔ پيژندلو پسې نه ګرځو کومې چې زمونږ ستونزې حلوي. (شراف الدين عظيمي)

**(807)** مينه کورنی ته ښېګڼه او نېکمرغې ور په برخه کوي.

(شراف الدين عظيمي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(808) په ژوند کې باید مینې ته لومړیتوب ورکړو؛ ځکه له مونږ سره دا مرسته کوي ترڅو زمونږ تصمیمونه او پریکړې سمي وي. (شراف الدين عظيمي)

(809) په همدې لحظه کې له خپلو غوښتنو څخه یو په یاد راوړه! ښايي چې دا غوښتنه دي هغه هیله وي چې نوره دي له یاده وتلې ده. (دبریا اروا پوهنه)

(810) یوازې له هغه څه نه چې په ژوند کې یې د زړه له تله غواړې، یو هیله او خوب جوړ کړه، په هغو کې فکر وکړه او په هغو کې ډوب شه، هغه خپله ستا خواته راځي.

(دبریا اروا پوهنه)

(811) که چېرې خپل ژوند دجګړې میدان وګڼې، نو ټول خلک به ستاسې په دښمنانو واوړي، او که چېرې ژوند یو لوبه وګڼې ډېر نندارچیان به دې ننداريز وي، نو ژوند ته کومه تشبه ورکول غواړې.

(812) داسې ژوند وکړئ چې په ډېره آسانۍ سره ترې خوند واخلې، له کړاو سره کم مخ شئ او تل داسې کار وکړئ چې شاوخوا وګړي هم ستاسو له کاره څخه خوند واخلي.

(دبریا اروا پوهنه)

(813) د دې لپاره چې نن له ژوند څخه خوند واخلئ، څه کولای شئ چې ترسره یې کړئ!

(د بریا اروا پوهنه)

(814) ته په خپل باطن کې د جاذبې قدرت لرې، چې په دې دنیا کې تر بل هرشي پیاوړی دی، او دغه نه اتکلیدونکی مقناطیسي قدرت ستا له خپلو افکارو خپرېږي.

(د بریا اروا پوهنه)

(815) همدا اوس ستا ژوند د پخوانیو افکارو انعکاس دی.

(د بریا اروا پوهنه)

(816) له یاده مه وباسه ژوند په تکراري ډول د لباس اغوستل نه دي.

(د بریا اروا پوهنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(817) تر څو نېکمرغي ونه پېژنو، تر څو دژوند لپاره تعریف ونه لرو، تر څو خپل ځان کشف نه کړو، تر څو خپل احساسات کنټرول نشو کړی، تر څو خپلې علاقې څرګندې نشو کړی، تر څو له نورو سره دجوړ جاړي شېبې ونه شو ازمویلې...**

**ژوندي به یوو، خو ژوند مو نه دی کړي.** (دبریا اروا پوهنه)

**(818) کوم فکرونه چې درته پیداکیږي هغه ولیکئ، پرېږدئ چې بیلا بیل فکرونه ستاسې ذهن ته راشي.** (دبریا اروا پوهنه)

**(819) له خپله ځانه، دخپل ځان په اړه پوښتنې وکړئ، دا ډېره ساده ده چې ځان له ځانه سره تحلیل کړې او دنورو له ښکاره انتقاده ځان وژغورئ.** (دبریا اروا پوهنه)

**(820) کله چې مونږ د زیانمنېدلو احساس کوو او پر ځان باور نه لرو، نو ډېره مشکله ده چې پر خپلو قضاوتونو هم باور وکړو.** (دبریا اروا پوهنه)

**(821) له ځان سره فکر وکړه، دکوم واړه عمل او تصمیم په واسطه کولای شم، په ژوند کې دموفقیت په لور کوم نوی حرکت وکړم.** (دبریا اروا پوهنه)

**(822) مونږ کولای شو هره نظریه چې زمونږ ذهن ته راځي په باور بدله کړو، خو په دې شرط چې د دې نظریې د تاید لپاره په پوره اندازه له خپلو تجربو استفاده وکړو.**

(دبریا اروا پوهنه)

**(823) په روحي او جسمي ډول ځان چمتو کړه، ځان تکړه ونېسه او هغه کار ترسره کړه، چې د خپلې لټې له مخې دې ځنډولی و.** (دبریا اروا پوهنه)

**(824) که باور ولرې او که یې ونه لرې، ته دخپل ژوند اصلي طراح ته خپله یې.**

(دبریا اروا پوهنه)

**(825) تجربه هغه سرلیک ده چې هرڅوک یې خپلو غلطیو ته عنوانه وي.**

(اوسکار وایلډ)

**(826) یوازې حقیقت کولای شي، چې تاسو ته رښتینې شهرت دروبښي.**

(دبریا اروا پوهنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(827) شدیدې غوښتنې ولره او غوره شیان وغواړه، ترڅو غوره توبونه تر نورو لومړی ستا په لور راشي. (دبریا اروا پوهنه)

(828) فکر وکړئ او بیا وواییې؛ په دې آزاده نړۍ کې فقر، غریبې او تنګ لاسي نه شي کولای، د انسان دپرمختګ مانع شي. (دبریا اروا پوهنه)

(829) د خپلو هیلو او ځان ترمنځ فاصله، یوازې په یوه مثبت او قاطع تصمیم سره ډکه ګړئ. (د بریا اروا پوهنه)

(830) ژوند یعنې له هیڅ څخه پیل کول او ډېر څه ته ځان رسول.

(دبریا اروا پوهنه)

(831) له هر څه نه مثبته نتیجه اخیستل ستاسو په ګټه ده.

(دبریا اروا پوهنه)

(832) که امکانات لرئ او که یې نه لرئ، لوی او دکېدو ور هدفونه وټاکئ.

(دبریا اروا پوهنه)

(833) ډېر داسي کارونه شته چې مخکې مو نشوای کولای، مګر اوس پرې توانېدلای شو.

(دبریا اروا پوهنه)

(834) خپل ځان له نورو سره مه مقایسه کوئ، هڅه وکړئ خپل ځان له خپلو اهدافو سره مقایسه کړئ. (د بریا اروا پوهنه)

(835) هدف ته درسېدو رمز ستاسي روحي وضعیت دی، هر هدف مو لږ تر لږه د ورځې دوه ځله تکرار کړئ، خپل هدفونه ولیکئ او په داسي ځاي کې یې ولګوئ، چې هره ورځ یې په لیدلو ږدامن وئ. (د بریا اروا پوهنه)

(836) یوازې یو هدفمن، مثبت او متفکر ذهن کولی شي، تاسي یو پایداره موفقیت ته ورسوي. (دبریا اروا پوهنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(837) همېشه دښه توبونو انتظار وباسئ، درته پېښ به شي.

(دبریا اروا پوهنه)

(838) ستاسو تر تولو لویه سرمایه پخپله تاسي یاست، نو دخپلو ارزشتونو د لوړاوی لپاره تولي لازمي زده کړي لاسته راوړئ. (دبریا اروا پوهنه)

(839) پهٔ دې مه خوړېږه چې لوړ مقام ته نه یې رسېدلی، پهٔ دې وخوربږه چې ولې دې د لوړ مقام لیاقت نه دی پیداکړی. (د بریا اروا پوهنه)

(840) لوی فکر وکړئ، تر څو لوی ژوند وکړئ، د ژوندانه لویې پهٔ کامیابي او خوشحالي کې ده. (دبریا اروا پوهنه)

(841) هر موفقیت دبل موفقیت سبب کیږي.

(د بریا اروا پوهنه)

(842) کله چې ستاسو پر زړهٔ او ذهن د کمزورۍ او بې کفایتی د احساس سیوری پریوځي، نو لوی فکر وکړئ او د همدغه لوی فکري له جادو څخه د ژوند پهٔ بحراني لحظو کې استفاده وکړئ. (دبریا اروا پوهنه)

(843) زمونږ د بدمرغي او بیوسي د هغو وزګارو ساعتونو لرل دي، چې د نیکمرغي پهٔ باب پهٔ فکرونو تېرېږي. (دبریا اروا ووهنه)

(844) کله چې د کوم کار د کولو لپاره ملا تړې، پهٔ بشپړ ډول دشک دروازې وتړه.

(دبریا اروا پوهنه)

(844) کله چې پهٔ کوم کار بوخت وې، کار کوه او کله چې پهٔ کومه لوبه بوخت وې، لوبه کوه مګر دا دواړه مه سره ګډوه. (دبریا اروا بوهنه)

(845) له خلکو سره داسي چلند وکړه، لکه څنګه یې چې له دوی څخه دځان پهٔ حق کې توقع لرې. (دبریا اروا پوهنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(846) نوی ملګري پيداکړه مګر زاړه ملګري دې هم له لاسه مه ورکوه، کوم کارونه چې انديوالي کوي هغه ډېر څه نه شي کولای. (دبريا اروا پوهنه)

(847) ځان غشتلي ونيسه، که چېرې له زړهٔ نه غشتلي هم نه وې، خلګ به نور باور هم درباندې وکړي. (دبريا اروا پوهنه)

(848) پهٔ لويو فکرونو کې فکر وکړه، اما له ورو خوښيو څخه خوند واخله.

(دبريا اروا پوهنه)

(849) هيڅکله ځوک مه ناهيلي کوه، کېدای شي هغه به له هيلې پرته بل هېڅ نه لري.

(دبريا اروا پوهنه)

(850) هيڅکه خپل موفقيت له واقع کېدو څخه مخکې مه اعلانوه.

(دبريا اروا پوهنه)

(851) پهٔ پوره زړهٔ ورتيا سره راپاڅه، نهيلی ايسته واچوه او تر ورستی سلګی پورې هيله من وه اوسه. (دبريا اروا پوهنه)

(852) تاسي خدای جل جلا له درانه پيداکړي ياست او پهٔ درنښت ارزئ، که چېرې خپل ځان پهٔ وړه تله وتلئ، سپک واړه به وخيږئ. (دبريا اروا پوهنه)

(853) برياليتوب دهغو چا پهٔ برخه وي، چې تر نورو زيات استقامت ولري.

(دبريا اروا پوهنه)

(854) ډاډمن وه اوسئ، له هر ماشام وروسته سهار راځي، مګر سهار به هغه ځوک وه ويني، چې تر سهاره دزغم ورتيا ولري. (دبريا اروا پوهنه)

(855) که چېرې دې وليدل چې هغو هدافو ته چې تا مشخص کړي نه شي رسېدلای، نو پهٔ هدافو کې دې لاس مه وهه، بلکې پهٔ پلان کې لاس وهنه وکړه. (د بريا اروا پوهنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(856) د هرچا د کمزورۍ ټکي د هغه دقوت تر ټکیو زیات دي، خو تاسو تل دخپل قوت پر ټکیو تمرکز کوئ.
(د بریا اروا پوهنه)

(857) خپلي ارتباطي شبکي ته پراختیا ورکړه، له کوره را ووځه او هغه څوک پیداکړه چې له تاسره مرسته کولی شي.
(دبریا اروا پوهنه)

(858) خپله رویه په دي راټوله کړئ "زۀ به ګټونکی وم "

(د بریا اروا پوهنه)

(859) پۀ هره کوټه کې ګلدانۍ کېږدئ، ګلونه د هوا له پاکوالي سره مرسته کوي اوستاسي رواني حالت تاند او تازه ساتي.
(دبریا اروا پوهنه)

(860) څېړنو ښودلي، هغه څوک چې د نن کار صبا ته پرېږدي، دهغو خلکو پۀ پرتله چې پۀ موقع سره خپل کار ترسره کوي، ډېر تر عصبي فشار لاندې کېږي.
(دبریا اروا پوهنه)

(861) له هغو عادتونو څخه چې انرژۍ له منځه وړي لاس واخلئ، تر څو د ډېر وخت لپاره فعال او غښتلي وئ.
(د بریا اروا پوهنه)

(862) ژوند پوازې کار، کار، کار نه دی، دویم کار پۀ تفریح بدل کړئ.

(د بریا اروا پوهنه)

(863) پۀ خپل ژوند کې انډول رامنځ ته کړئ، له تفریح پرته دایمي کار کول عاطفي او جسماني مشکلات رامنځ ته کوي، آرامي او تفریح د انرژۍ د زیاتولو دوه مهم لاملونه دي.

(د بریا اروا پوهنه)

(864) ایا داسي ملګري دي هم پیداکړي، چې همېشه له تاسو سره د چارو پۀ سمون کې مرسته کوي.
(د بریا اروا پوهنه)

(865) خلک ډېر دي ښېخي ډېر، تاسي له هغو خلکو سره ناسته ولاړه ولري، چې تاسي تشویقوي، له تاسو سره دېنه چلند خیال لري او ستاسو پۀ خوشحالي خوشحالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د بريا اروا پوهنه)

**(866) هغه علاقه چې پهٔ شرطونو سره منځ ته راځي، پهٔ روابطو فشار راوړي، خو بې قيده او بې شرطه علاقه يو اوبل ته زړونه نږدې کوي.** (د بريا اروا پوهنه)

**(867) کار ستاسو لپاره ورزش ده، ستاسو پهٔ بدن کې د وينې او اکسيجن ميزان ثابت ساتي.** (دبريا اروا پوهنه)

**(868) له خپلو ورځنيو کارونو څخه خوند واخله، هغه کولای شي پهٔ تاسو کې ښه احساس رامنځ ته کړي.** (د بريا اروا پوهنه)

**(869) د احساساتو کنټرول دژوندانه غوښتنو ته درسيدلو بهترينه لار ده.**

(دبريا اروا پوهنه)

**(870) علاقمند او ليوال وه اوسئ، نړۍ به ستاسو علاقي او ليوال ته ځواب ووايي.**

(د بريا اروا پوهنه)

**(871) خوښي نه راځي، تاسو وريسي ولاړ شئ او راپيدا يې کړئ.**

(د بريا اروا پوهنه)

**(872) بد مرغي له هغه کړکۍ نه راننوځي، چې پرانيستي مو پرې ايښې ده.**

(د بريا اروا پوهنه)

**(873) همدا اوس ځير شئ او پهٔ پوره باور سره خپل اهداف انتخاب کړئ، هر يو چې تر ټولو ډېر ارزښت لري هغه پهٔ ياد راوړئ، هغه هدف چې تاسي تر ټولو زيات پهٔ حرکت راولي، هغه مشخص کړئ.** (د بريا اروا پوهنه)

**(874) هغه فکرونه چې تر اوسه يې مونږ کوم ځای ته نه يوو رسولي، له دې نه وروسته هم مونږ هغو ځای ته نشي رسولای چې غوښتونکی يې يوو ...**

**بدلون تر ټولو زمونږ مهم ملګری ده.** (د بريا اروا پوهنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(875) د بدلون تر ټولو لنډ لار داده، چې په خپلو تېرو ناپوهيو پورې وخاندو.**

(د بریا اروا پوهنه)

**(876) داسي خيالي هيلو ته په سر کې ځای مه ورکوه چې د واقعيتونو په نړۍ کې په واقعيت نشي بدلېدلای، د هغو هيلو لپاره هڅه وکړه چې ترسره کېدل يې کېدای شي، او ستا له علاقو او ارزښتونو سره سمون خوري.** (دبریا اروا پوهنه)

**(877) خپلو غوښتنو ته د رسېدلو لومړی ګام، د روښانه او تعريف شويو غوښتنو لرل دي.** د بریا اروا پوهنه)

**(878) هغو خلکو چې پرمختګ کړی، په پوره توګه يې له انساني منابعو کار اخيستی، ځکه پوهېدلي چې هدف ته په رسېدو کې له هرې ماتي وروسته ورته يوه لويه او عظيمه کاميابي انتظار وباسي.** (دبریا اروا پوهنه)

**(879) تاسي خپل ځان دنړۍ لپاره ضروري وګڼئ او خپل ځان د بښېګڼي واسطه کړئ.**

(د بریا اروا پوهنه)

**(880) د ژوند طبعي دوران له ځان سره نوښت کړه، او بالاخره خپل ځان وپېژنه.**

(د بریا اروا پوهنه)

**(881) ستا ذهن (دفکر کولو کار ځای) دی، چې هره ورځ زيات فکرونه توليدوي، نوله خپل ذهن څخه دمسايلو دتحليلولو په موخه استفاده وکړه، نه داطلاعاتو دانبارولو.**

(د بریا اروا پوهنه)

**(882) ته دټولو ښيګڼو مستحق يې او ستا د ژوند د کتاب ټول مسائل حل کېدونکی دي.**

(د بریا اروا پوهنه)

**(883) څوک چې دچانس په هيله ژوند کوي، څـــو کاله مخکې مړ دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(884) دې ته صبر مکوه چې موقع برابره شي، ته خپله برابر شه.

(د بریا اروا پوهنه)

(885) شکونه او ویرې له ځانه لرې کړه، ځان بشپړ چمتو کړه او هغه ژوند پیل کړه چې دهغو لپاره پیدا شوي یې. (د بریا اروا پوهنه)

(886) دژوند په تولو مرحلو کې د خپلو اعمالو مسؤلیت په غاړه واخله، او بالاخره ژوند په خپلو الفاظو تعریف کړه او تل دیوه بهترین کس په توګه ژوند وکړه.

(د بریا اروا پوهنه)

(887) هر ځای ته چې ځې، داسې فکر کوه چې بریالی کیږم، او تل ددې انتظار کوه چې دنورو د توجو او محبت سبب ګرځم. (د بریا اروا پوهنه)

(888) پر نفس دباور کیلي داده چې لومړی تصمیم ونیسئ چې څه غواړو، وروسته هغو ته رسیدو لپاره داسې څه وکړئ چې ګواکي شکست او ماتې له بیخه شتون نلري.

(د بریا اروا پوهنه)

(889) هر څه لپاره چې انسان ارزو کوي، د هغو د سرته رسونې بشپړ ځواک لري.

(ژان ژاک روسو)

(889) مونږ هماغه شان کیږو، چې زمونږ دزړهٔ غوښتنې یې امر کوي.

(د بریا اروا پوهنه)

(890) په کارونو کې تنوع، نوښت، رنګارنګي او بدلون ستاسې پرمخ د نویو کامیابیو دروازې پرانیزي. (د بریا اروا پوهنه)

(891) د تصمیم یو تعریف له هغو اصطلاعاتو څخه عبارت دی، چې د عمل سبب کیږي، که چیرې ستاسې تصمیم عمل رامنځ ته کړي، نو واقعي تصمیم مو نیولی دی(د بریا اروا پوهنه)

(892) د غافلو انسانانو د زړونو دروازې د معرفت دنور په وړاندې بندې وي، او پر خپلو ذهنونو یې د بدبینۍ او منفي خیالي کولفونه اچولي وي. (د بریا اروا پوهنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(893) روان او هڅاند وه اوسه، که روان سړی ته کوم چانس پېښ شي، نو مستقیماً به ورسره مخ شي او په لاس به يي راوړي، خو که پراته سړی ته کوم چانس پیداشي، نو یوازې به خوب ووېني او نور به هېڅ په لاس رانه وړي.** (د بریا اروا پوهنه)

**(894) که چېرې د خپل پروګرام په پلي کولو بوخت شي، نو ستا پروګرام هم پر تا بوختېږي، د هر غوره شي په بشپړولو چې پیل وکړې، هغه په پای کې پخپله تا بشپړه وي.**

(د بریا اروا پوهنه)

**(895) د انسان بدمرغي په دې کې ده چې هیلي او غوښتني يې ډېرې دي، خو دی ورته یواځې دی.** (د بریا اروا پوهنه)

**(896) د خلکو منځ ته ورشه او په خلکو کې نفوذ وکړه او په دې ترتیب دمختلفو خواو قوت له خپل قوت سره یو ځای کړه او پرمخ ولاړ شه.** (د بریا اروا پوهنه)

**(897) د خپلي پوهي په زیاتوالي کې د نورو خلکو له نظریاتو څخه ګټه واخله، مګر تصمیمونه دې د خپلو پایلو پر اساس ونیسه.** (د بریا اروا پوهنه)

**(898) ستا اوسنی ژوند ستا دپروني ژوند انتخاب ثمره ده، نو ځان لپاره دهر ډول انتخاب حقدار یوازې ته يې.** (دبریا اروا پوهنه)

**(899) لوی خدای جل جلاله په تا باندې ژوند لوړولی او دهغه اهلیت يې درکړی نو په دې اساس 《ته》 یوازې ته کولای شې خپل ژوند په خپله نیکمرغه کړې.** (دبریا اروا پوهنه)

**(900) زیاتره خلک فکر کوي، چې موفقیت په یوه خاص نبوغ او استعداد پورې اړه لري، خو زه عقیده لرم چې واقعي نبوغ هغه دی چې د خپلو باورونو په غښتلي کولو سره په خپل وجود کې عظیم ځواکونه رافعال کړو.** (د بریا اروا پوهنه)

**(901) له ځانه خبر انسان هغه دی چې پوښتني کوي، پلټني کوي، پرله پسي په موضعاتو ځان پوهوي، پاخه ګامونه اخلي، او بالاخره تر هدفه پورې رسي.** (د بریا اروا پوهنه)

**(902) هدف او پروګرام انسان په ژوند کې فعال، خوځند او هیله من ساتي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دبریا اروا پوهنه)

**(903) انسان په دې نه هوښیارېږي چې یوازې لوستنه وکړي، بلکې که دهوښیارۍ لپاره کومه لاره وي، هغه به یوازې دا وي چې دخپل فکر د بډاینې لپاره نور فکرونه هضم کړي او بیایې دخپلو خورو ورو خیالونه سره پیوند کړي او وروسته یې د خپل زړهٔ په لار ښوونو وکاروي.** (دبریا اروا پوهنه)

**(904) بشر چې څومره د پېښو له فکرونو څخه ځورېږي، پخپله له پیښو څخه نه ځورېږي.** (دبریا اروا پوهنه)

**(905) د بشر ټول اعمال د ده دفکرونو او باورونو پایله ده.**

(دبریا اروا پوهنه)

**(906) لکه څنګه چې اوبه ځان ته پخپله ځای پیداکوي، په همدې ډول هر انسان ددې وړتیا لري، چې ځانته پخپله دژوند معیار وټاکي.** (دبریا اروا پوهنه)

**(907) کله چې زمونږ مزاج او طبیعت سم وي، نو زمونږ په څېره کې به د ډاډ او نورانیت ډیوې بلې وي، که ناسم مزاج ولرو نو په مخ کې به کرکه، ویره او وحشت لیدل کیږي.**

(ډیل کارینګي)

**(908) که تاسو خپلو نږدې اوزرهٔ ته درتېرو ملګرو ته پام وکړئ، چې هغوی ستاسو پر وړاندې موسک- موسک کیږي، نو ستاسي د زړهٔ په ژورو کې ډېر ځای نیسي او ډېر ترې اغیزمن کیږئ، نو تاسو هم همدا راز ولې نه پلی کوي.** (ډیل کارینګي)

**(909) مسکا د انسان دجسمي غړو او اعضاو لپاره هم ګټوره ده، په دې سره مو بدني روغتیا ډېرېږي او له بېلابېلو اروایي او جسمي ناروغیو ژغورل کیږئ.**

(ډیل کارینګي)

**(910) د خیالاتو خوښ ساتنه کوم ستونزمن کار نه دی، تاسو کولی شئ پخپل ذهن کې همېشه مثبت او خوښ خیالات وساتئ، خــــو لږ څه تمرین ته مو اړتیا ده.**

(ډیل کارینګي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(911) انسان دفطرت يو عجيبه مخلوق دی، ځکه ډېر ژر نعمتونه هېروي، خو مصيبتونه يې بيا د ژوند ترپايه يادوي، ښايي همدا يې لامل وي چې انسان د خپل ژوند ډېره برخه په انديښنو او خپګانو کې تېروي. (ډيل کارينګي)

(912) که تاسو د نورو احساسات وستايل، هغوی به ستاسو احساسات وستايي او ډېر ژر به يې په زړونو کې ځای پيداکړئ. (ډيل کارينګي)

(913) څومره چې تاسو دنورو لاسنيوي کوئ، او دخير په کارونو کې ورسره مرسته کوئ، همدومره به تاسو دنورو لپاره اغيزمن شئ. (ډيل کارينګي)

(914) په ياد ولرئ چې اخلاص، مينه، بې غرضي، صله رحمي، د انسان په ذات کې اغيز راولی، دا ټولي ځانګړني هغه مهال رامنځ ته کېږي، چې کله يې انسان ځانګړی پام وساتي.
(ډيل کارينګي)

(915) ايا ستاسو په ذات کې دا ميرني خوی شته، چې دنورو مثبتي ځانګړني او کارنامي مو ستايلي دي. (ډيل کارينګي)

(916) يوه ښځه که هرڅومره ښکلی قد وقامت، شايسته سترګي، دنګه غاړه، د زرکو قدمونه او په اصطلاح سمه دچين ښاپيری وي، خو چې چوپ چاپ ناسته وي، ښايي ميره يې ورسره ډېر زر په جنجال واوړي. (ډيل کارينګي)

(917) د کمتری (دځان ټيټ ګڼلو) د انسان په ژوند ژور او منفي اغيز غورځوي او د ژوند له خوند يې په بشپړ ډول محروموي. (ډيل کارينګي)

(918) په ډېر تکليف سره غږېدل، په ډېر لوړ آواز غږېدل، د درس په دوران چيغي او بی ځايه غوصه، په مخاطب شخص دخپل علميت د رعب غورځولو هڅه اوداسي نور حرکتونه ټول د کمتری د احساس بېلابېل شکلونه دي. (ډيل کارينګي)

(919) که تاسو په ربښتيا سره د انسان فطرت درک کړ، نو بيا زه په داډ سره ويلی شم، چې بيابه هيڅ د نورو په ناوړه حرکتونو او کړو وړو خپه نشئ او په هغوی به دنيوکو پر ځای دابښه وګڼئ، چې مرسته ورسره وکړئ، او اروا يې ور سمه کړئ.

(ډيل کارينګي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(920) ماشومان او نوی تنکي ځوانان ډېر ژر خپل همت بايلي، نو ځکه مونږ ته پکار دي، چې هغوی ته په بېلابېلو لارو چارو سره داډ ورکړو، مرسته ورسره وکړو، څو هغوی په خپل ذات باوري شي او مخکې لاړ شي. (ډيل کارينګي)

(921) په وړو وړو خبرو غوصه کول ديوې وېرونکې ناروغۍ مثال لري، په دې ناوړه خوی سره ستاسو شخصيت سپکېږي او له نورو سره مو په اړيکو کې لړوالی راولي.

(ډيل کارينګي)

(922) د هرچا نوم يادوئ او په احترام سره يې ورته اخلئ، که تاسو دچا نوم په ناسم ډول اخلئ دابه ستاسو تر ټولو ستر زيان وي. (ډيل کارينګي)

(923) خپل ځان ته اهميت ورکړئ، له نورو سره داسې کړه وړه ترسره کړئ، څه ډول يې چې تاسو دځان لپاره له نورو تمه لرئ. (ډيل کارينګي)

(924) که تاسو غواړئ چې خلک دحسد پر ځای مينه درسره وکړئ، نو له نورو خلکو مشورې وغواړئ، دهغوی دنظرونو احترام وساتئ. (ډيل کارينګي)

(925) بد بختي او بد مرغي دا ښېګڼه لري، چې مونږ ته ريښوني ملګري را پېژني.

(بلزاک)

(926) څوک چې بدمرغي ونه پېژني، د نېکمرغي لاسته راوړل اوساتل هم نشي زده کولای. (ډېويډ وايټ)

(927) ځوانمردان د نېکمرغۍ او بد مرغۍ په دواړو حالاتو کې يو شان سلوک کوي.

(ارسطو)

(928) بدبختي او بې وزلي ډېر لوی زره بين دی، او دانسان نيمګړتياوي او نواقص سل ځلې او زر چنده لويوي. (دشتي)

(929) احمق انسان ته دشيطان لومړنی سبق کمښتي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(930) بد نېتي هيڅکله هم خوشالي نه لري.

(931) بد نېتي فکر کوي، که د همسايه ښه يې ماته شي، نو دى به لا ښه پر لار لاړ شي.

(932) که تصميم لري ژر به بريالى شي، ځکه انسان له خپلو فکرونو جوړ دى، سبا هغه څوک ګټي، چې نن د هغه په فکر کې دى.

(933) احتياط دي هر وخت بچ کوي، د ژوند په سفر کې د احتياط له رسى سره تل همېشه جوړ ځه.

(934) که غواړې، يو څوک وپېژنې، د ملګرو پوښتنه يې وکړه.

(935) کوم کار چې په مشوره سره وشي، په هغه کار کې پښېمانتيا وجود نه لري.

(936) په ټولنه کې له بدو او شرارو خلکو سره له ناستې پاستې ځان وساتئ، هسې نه چې خلک په تاسو هم همدا شان ګومان وکړي.

(937) د دوستانو او ملګرو جوړول د دښمن تر ماتولو زياته هوښيارې غواړي.

(938) تر هغو پنځو روفو چې په لار کې يې پيداکړي، د کار او کسب يوه روفى بهتره او غوره ده.

(939) که تاسو د نورو نېکمرغي او خوشالي غواړئ، لري نه ده چې يوه ورځ به تاسو هم نېکمرغه او خوشبخته شئ.

(940) څوک چې بې کار او بې روزګاره ورځ تېره وي، هغوى ژوند کول نه غواړي.

(941) کرکه کول اکثر له ناسم پېژندلو څخه جوړيږي، ديوچا سم پېژندل په کرکه کولو کې ناشونى ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(942) ته هم لکه دنورو په شان يو انسان يې، خپل ځان وپيژنه، ته هم لکه بل ځوک بريالی کيدلای شي.

(943) حقيقت ته رسېدل په سرو مغزو سره کيږي، خو په قهر کيدلو کې سړی له حقيقت څخه ليرې پاته کيږي.

(944) شرايط يا د ژوند چاري تر خپل کنترول لاندې ونيسئ، که داسي ونه شول شرايط به تاسو په لاس کي واخلي.

(945) ځومره چې عدالت ځنډول کيږي، هماغومره بې عدالتي زياتيږي.

(946) هر ځومره مطالعه چې مي د مشکل څخه د خلاصون په پار کړي ده، د ټولو پوهانو له نظره دمشکل څخه د خلاصون له مشکيل سره مبارزه ښودل شوي ده.

(947) تر ټولو غټ بخل دادی چې د نورو خوښي او نېکمرغي پر ځان درنه وګڼي.

(948) مونږ به دخلکو دروازو ته ورشو وروڼه به يې وټکوو، د پوهي او زده کړي فضايل به ورته بيان کړو، خو د هغوی بدلون زمونږ په واک کې نه دی، د انسان بدلول پخپله دهغه په لاس کې دی.

(949) کله چې له چا سره په خپله ژمنه باندې وفا وکړو، دا زمونږ لپاره يو فرصت دی، چې خپل باور او اعتماد د نورو لپاره وښايوو.

(950) ډېرې ژمني چې پوره کول يې ستاسو له وسه نه کيږي، مه يې کوئ.

(951) مونږ پاک خدای جل جلاله خپلواک پيدا کړي يوو، خو انسان خپله غلامي ته ځان برابروي.

(952) که تاسو ځوک نه پيژني دا د خپګان خبره نه ده، خپګان دا دې چې ته نور خلګ ونه پيژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(953)** کله چې يو څوک په کاميابي کې ځان اداره کړي، بوځل بيا هم بريالی کېدلای شي.

**(954)** ډېر خوشحاله خلک چې ما لېدلي او د خوشالي په اړه مې ورڅخه پوښتنه کړي، هغوی هيڅ لامل نه لاره، پرته له دې چې خوشحاله وو.

**(955)** ډارن او بې زړه خلک يوازې خپلو ښځو ته زمري وي.

**(955)** نېکمرغي که تاسو پېژنئ او يا نه، خو نېکمرغي دا مانا چې بد مرغی ته تسليم نه شي.

**(956)** همېشه ډېر او خيالي فکرونه پر ځان مه امباروئ، د تصميم نيونی ځواک مو له منځه وړي.

**(957)** د دې پر ځای چې په ستونزو وغړېږئ، د ستونزو په حل فکر وکړئ، د ستونزي ښيخ ته ورشئ، او ستونزه له هغه ځای څخه تحليل کړئ، له کوم ځايه چې را توکېدلي وي.

**(958)** هغه روا شيان چې مونږ يې له الله جل جلاله څخه وغواړو، او د لاسته راوړلو لپاره يې همت وکړو، خامخا يې پاک خدای جل جلاله مونږ ته راکوي.

**(959)** بې فايدې او زړۀ خوړين فکرونه، زمونږ ژوند له ناهيلي سره مخ کوي.

**(960)** خپل هدفونه د کتابچې په سپين مخ وليکه او هر هدف ته د رسېدو او پيل کېدو تاريخ ورکړه.

**(961)** د پاک خدای جل جلاله دا لويه نړی پر ځان مه تنګوه، هيڅکله هم حالات برابر نه درومي، سوکالی او نېکمرغی ته انتظار کول، پر خپل ځای غوره عبادت دی.

**(962)** خپل راتلونکی په روښانه او واضحو هدفونو پر واسطه روښان او ځلاند کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(963) جهل، ډار، بد فکري او ناوړه دودونه هغه لاملونه دي، چې زمونږ په باطن باندې منفي تاثر اچوي، چې په پای کې زمونږ روغتیا او خوشالي را څخه غلا کوي.

(964) که غواړئ ژوند مو بدلون وکړي، نو له همدا نن څخه دې اخلاقو ته بدلون ورکړه.

(965) که څوک دا باور او عقیده لري، چې موفقیت، نیکمرغي او دولتمندي به را خپلوم، نو په رشتیا سره به یې خپل کړي.

(966) څوک چې د پوره ایمان خاوند وي، هغه هیڅلکه هم اندیښمن کیدلای نه شي.

(967) نیکنامي او ښه شخصیت جوړیدنه د نورو له عینکو څخه معنا کیږي، د هغو کنټرول ستاسو په لاس کې دی

(968) په دې نړۍ کې شجاع هغه څوک دی، چې له ماتي او ناکامي وروسته بیا سر را پورته کړي، او د ژوندانه چارې له سره ورغوي.

(969) مونږ پاک خدای جل جلاله دې نړۍ ته ځکه راستولي یوو، چې موفق او غوره ژوند وکړو.

(970) ځیني ناپوه او لټ اشخاص چې د مسایلو ظاهري نښې ویني نه پخپله مسایل، زیاتره یې له بخت چانس او تصادف څخه خبرې کوي.

(971) هر کله چې د ژوند له چارو سره په تنګ شوې، نو پاک خدای جل جلاله ته آواز کوه، هغه مهربان ذات هیڅوک هم خالي لاس نه پرېږدي.

(972) هیڅکله هم دبد کار ځواب په بد چلند سره مه ورکوئ، ځکه د دوو بدو شیانو جمعه کول مساوي دي، او پایله یې هماغه بد کار دی.

(973) نه لوړې زده کړې او نه هم استعداد کولای شي چې د مقاومت ځای ونیسي، یوازې کلکه اراده او سخت مقاومت دی چې لا یتناهي قدرت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(974)** ستاسو وړتیا او زړه ورتوب پهٔ هغو کارونو کې ده، کوم چې مو پای ته رسولي.

**(975)** فکر، نظر، عمل او غوښتنې مو ټول سره همغږي ساتئ، که له دې ټولو سره پهٔ همغږي ژوند ته دوام ورکړ، خوښي او نېکمرغي به خپله درته رامنډې وهي.

**(976)** دهري ورځي حساب بېل دی، نن نن دی، هیڅ رابطه له پرون او صبا سره نه لري.

**(977)** زمونږ ژوند پهٔ هیلو او ارزوګانو ولاړ دی، که چېرته د انسان له سترګو د هیلو څرک لرې شي د دنیا څېره به ډېره بدرنګه شي.

**(978)** خپل ارمان ته پهٔ ژوند کې رسېدل، تلسلیمي اوپاتي راتلنه بې مانا دی.

**(979)** بې کاره او منفي سوچونه او فکرونه ستاسو او ستاسو دهدافو اوترمنځ پرېکون منځ ته راړي.

**(980)** هره موخه اوهدف چې تاسي غواړئ پهٔ راتلونکي کې ځان ور ورسوئ، باید هره ورځ یې تر نوی څېړنو لاندې ونیسئ.

**(981)** د تېرو وختونو تېروتنې او ناکامۍ د تل لپاره هېرې کړه، پخپل وجود کې کامیابي احساس کړه، کامیابي به وه وینې.

**(982)** خوښ او موفق ژوند: یعني تېر هېرول، له بدو فکرونه څخه دباندې وتل، له اسلامي خویونو سره همغږي کېدل، اوله خپل ځان او انسانیت سره همدردي احساسول.

**(983)** تېرو غمونو او دردونو ته فکر کول، د خفګان او اندېښنې سبب کېږي، د داسي فکرونو د فعالیت پروسه لغوه کړئ.

**(984)** ژوند دمیني اوښکلا نوم دی، ولې یې په منفي فکرونو او ذهنتیونو ښکلا له منځه وړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(985) که تاسو غواړئ خواږه او روغ ژوند ته ورسيږئ، له همدا اوسه يې شروع کړئ، ټول شيان له همدا اوس څخه شروع کيږي، پر پرون اوصبا پوري هيڅ اړيکه نه لري.

(986) دا دنيا د عملونو او کړنو ځای ده، دلته بايد هر انسان يونه يوڅه وکړي،پاک خدای جل جلاله د دې لپاره مونږ دې نړۍ ته راستولي يوو.

(987) که غواړئ ټول کارونه مو سم اوښه ترسره شي، نو تاسي ورته ځان ښه کړئ.

(988) لټي او تنبلي داسي يو مرض ده چي انسان روغ جوړ ښکاري، خو په لاسونو او پښنو کي يې داسي ځنځيرونه تړل شوي وي، چي هيڅ يې له وسه نه کيږي او له خپل ژوند سره همېش په جګړه بوخت وي، همدغه ځنځيرونه دهمت په مټ ماتولی شو.

(989) زمونږ د ټولنې يو بد دود دا هم دی، چي پوهي او زده کړي ته پر نفرت ګورو، خو که دې بد دود ته خاتمه ورکړو، ډېر ژر به له نړۍ سره وصل شو.

(990) ښه او غوره ژوند يوازې پر مدرسه او ښوونځيوو کې نه شو زده کولای، ښه ژوند د کلی، ښار، بازار، مسجد او هرځای له خلکو سره په ژوند کې زده کولای شو، زمونږ ستر پيغمبرصل الله عليه وسلم نه مدرسه او نه هم ښوونځی  لېدلی وو.

(991) هر انسان بايد خپل قيمتي وخت پر داسې کارونو ولګوي، چي د ده لپاره تر ټولو زيات ارزښت ولري، وخت قيمتي دی او هيڅکله هم تللي وخت نه راګرځي.

(992) کوم څه چي نن په فکر لرې، هغه ستا د صبا ورځي ژوند جوړيږي، فکر دی سم جوړ کړه، چي ژوند دې سم شي.

(993) تاسي د خپلو هدفونو او تصميمونو لپاره ځانګړی مغز او قوع لرئ، پخپل تصميم نيونه کي د نورو خلکو ګډوډو نظرياتو تر تاثر لاندې مه راځي، د نورو نظرياتو ته احترام ولرئ، خو ټول هدف د دوی په نظرياتو مه ټاکئ.

(994) مونږ خپلو هيلو او ارمانونو ته هلته رسېدلای شو، چي قاطع هدفونو ورته وټاکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(995)** **زمونږ ژوند زمونږ انتخابونه ټاکي، د ژوند په اوسني وضعیت کار مه لرئ، او انتخابونو ته مو جدي پام واوړوئ.**

**(996)** **که پر سختیو او مصیبتونو کې صبرناک او لوړ فکره ونه اوسې، پر هوساینه او خوشالي کې هیڅکله هم اغیزناک او صبرناک نشي کیدلای.**

**(997)** **که له هر چا سره مخامخ کیدلی، له کوم دلیل پرته خپله مینه تري قربان کړه، او وروسته پسې وګوره چې پایله یې څه کیږي.**

**(998)** **پاک خدای جل جلاله زمونږ پر فقري او بېوزلي باتدې راضي نه دی، نړۍ کې زمونږ د نېکمرغي لپاره الله تعالی بې شمېره نعمتونه پیداکړي، مونږ باید پر دې باور ونه وسو، چې بېوزلي د تقوا نښه ده.**

**(999)** **دانسان ژوند د هغه دفکرونو په شاوخوا راڅرخي، بد او بېکاره فکرونه زمونږ ژند د دوزخ په شان جوړوي، خو ښه او امید بښونکي فکرونه مونږ ته دا دنیا جنت جوړوي.**

**(1000)** **په ژوند کې ډېر لوستل مهم نه دي، مهم په لوستلو عمل کول دي، د دې کتاب هره جمله یوازې پر یو ځلي لوستلو مه پرېږدی، هره جمله یې دومره ولولئ چې پر ذهن کې مو ځانګړی ځای جوړ کړي وروسته دوهمه جمله پیل کړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر انګېزه بېنوټکي خبرې

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library